# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۳۶) ګڼه / چهارشنبه ۲۲ شعبان المعظم ۱۴۴۴ هـ.ق/ ۲۴ حوت ۱۴۰۱ هـ.ش / ۱۵ مارچ ۲۰۲۳ میلادي


## د افغان کډوالو د ستونزو څېړلو په موخه یو پلاوي ایران ته سفر وکړ

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت یوه پلاوي په ایران کې د افغان کډوالو د ستونزو څېړلو په موخه دغه هېواد ته سفر وکړ. د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت پر خپله ټوېټرپاڼه لیکلي یاد پلاوی د دغه وزارت د کور پلټنې رییس په مشرۍ تللی دی. د سرچینې د معلوماتو له مخې یاد پلاوی په ایران کې د افغان کډوالو د ستونزو او د اتشې د کړنو او فعالیتونو څېړنه کوي. د یادونې ده په ایران کې د افغانستان سفارت د روانې کب میاشتې په ۷مه نېټه د افغانستان اسلامي امارت ته وسپارل شو او د بهرنیو چارو وزارت خپل استازی سفارت ته استولی دی. د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې، دا مهال شاوخوا ۷ میلیون افغانان په بېلابېلو هېوادونو کې د کډوالۍ ژوند کوي.

## د ګردېز بالاحصار په ګډون یو لړ ابدې رغول کېږي

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هنر او فرهنګ مرستیال مولوي عتیق الله عزیزي د پکتیا بالاحصار د وضعیت ارزونې او بالاحصار اړوند د غصب شوې ځمکې راګرځولو په موخه دې ولایت ته سفر کړی. نوموړي د بالاحصار د لیدنې پر مهال ویلي، چې په ۱۴۰۲ کال کې یې د دې تاریخي کلا رغول او ترمیم لومړیتوب دی. د عزیزي په وینا؛ د تاریخي ابداتو د ساتنې لپاره د ۰۱۲ په نوم د یوې قطعې جوړولو تشکیلات بشپړ شوي او د یوه کال په جریان کې سلګونه کسان د تاریخي ابداتو د ساتنې په موخه په دندو ګمارل شوي دي. نوموړي ویلي، اطلاعاتو او کلتور وزارت هڅه کوي، څه اسانتیاوې او بودجه چې په خپل واک کې لري د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې د تاریخي ابدو او سیمو په بیارغونه کې ولګول شي.

## د هېواد په شمال او لوېدیځ کې د اورګاډي پټلۍ جوړولو پرېکړه وشوه



د اسلامي امارت د کابینې ۲۷مه نوبتي غونډه د رئیس الوزرا ملا محمد حسن اخوند په مشرۍ ترسره شوه. په دغه غونډه کې پرېکړه وشوه، چې د جوزجان - اندخوی او هرات - روزنک تر منځ د اورګاډي پټلۍ جوړولو عملي چارې دې پیل شي. د دې چارو اړوند چې په ازمېښتي ډول به پیلېږي، د اوسپنې پټلۍ ادارې ته دنده وسپارل شوه، چې له اقتصادي کمیسیون سره په همغږۍ د کابینې د ۲۶مې ګڼې مصوبې پر اساس د ګمارل شوي پلاوي راپور په پام کې ونیسي او د تخنیکي پرسونل او د کاري کیفیت په اړه څېړنې ترسره کړي. په غونډه کې همدارنګه کابل ښاروالۍ ته دنده وسپارل شوه، چې د نیمه کاره لوړپوړېزو ودانیو هغو مالکانو ته چې د بل ۷مخ

### له افغان شخصیتونو سره د اړیکو کمېسیون:

## نظام کې راستنو شویو مسلکي کسانو ته کار ورکول کیږي

له افغان شخصیتونو سره د اړیکو کمېسیون ویاند وایي، د افغانستان اسلامي امارت به هغو استعداد لرونکو او رېښتینو شخصیتونو ته په حکومت کې د کار زمینه برابره کړي، چې بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي او یا هم راستانه کېږي. له افغان شخصیتونو سره د اړیکو کمېسیون زیاتوي، تر اوسه د وزیرانو، والیانو، جنرالانو، د ملي شورا غړو او پخوانیو سیاسي او پوځي شخصیتونو په ګډون له ۵۰۰ ډېر سیاسي شخصیتونه هېواد ته راستانه شوي دي. له افغان شخصیتونو سره د اړیکو کمېسیون د اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته د هغو افغان سیاسي او نظامي شخصیتونو د راستنېدو په موخه جوړ شوی، چې له هېواده وتلي دي.

### بهرنیو چارو وزارت:

## ګڼو هېوادونو ته نوي افغاني پاسپورټونه لیږل شوي

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت بي بي سي ته ویلي، له هېواد بهر کونسلګریو ته یې تازه پاسپورټونه استولي چې هلته اړتیا لرونکي افغانان له کړاو سره مخ نه شي.

په سعودي عربستان کې مېشتو افغان کډوال ویلي، له ډېرې مودې راهیسې زرګونه افغانان چې د پاسپورټونو موده یې بشپړه شوې له سفره بند پاتې دي او د ډېرو کسانو په ټولنیز ژوند او کاروبار یې هم ناوړه اغېز پرایستی. په سعودي عربستان کې مېشت یو شمېر افغانانو ویلي هلته په تېره څه موده کې د اسنادو له جنجال سره مخ دي.

## تخریب ۵۵ جریب کشت کوکنار

شریعت: پنجاه و پنج جریب کشت کوکنار در شش ولایت کشور، از سوی پولیس مبارزه با مواد مخدر وزارت امور داخله، تخریب شد. دفتر مطبوعاتی وزارت امور داخله روز گذشته در خبرنامه‌یی گفت: به ادامه روند تخریب کشت خشخاش در کشور، سی و هشت جریب زمین زرع شده خشخاش را در ولسوالی غنی خیل ۷مخ

### د افغانستان بانک:

## نوي بانکنوټونه د بازار اړتیاوو ته په پام عرضه کوو

د کابل ګڼ اوسېدونکي، صرافان، هټۍ‌وال، موټرچلوونکي او د توکو پلورونکي د زړو بانک‌نوټونو له ډېروالي شکایت کوي او وايي، د ورځنۍ راکړې ورکړې پر مهال د دغو پیسو کارولو له جدي ستونزو سره مخ کړي دي. هغوی زیاتوي، په ټوله کې ټول بانکنوټونه زاړه شوي خو د نورو په پرتله لسګون، شلګون، پنځوسګون او سلګون بانکنوټونه هومره زاړه شوي چې اصلاً د کارولو وړ نه دي. د افغانستان بانک ویاند حسیب‌الله نوري وايي، دغه بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه چې یوه دنده یې د پولي سیاستونو ۷مخ

## سرمقاله

## کورنۍ مشروعیت څرنګه ترلاسه کېدی شي؟

داچې د افغانستان اسلامی امارت په وار وار له نړۍ سره د متقابل درناوي پر اساس د رسمي او سفارتي اړیکو غوښتنه کړې، خو له بده مرغه نړیوالو د خپل ضد له مخې د ځینو پلمو په عنوانولو تر اوسه لا د افغانانو پر حق سترګې پټې کړې او څه مثبت ځواب یې نه دی ویلی، په دې اړه زیاتره سیاسي شنونکي- کورني وي، که بهرني- تر ټولو ډېر د کورنۍ مشروعیت موضوع ته ګوته نیسي- دوی وایي که څه هم اسلامی امارت په هېواد کې امنیت راوستلی، پر ټوله خاوره واکمني لري او جګړه هم وایي ځکه نشته چې له تېرو شلو کلو راهیسې همدوی جګړه کوله، نو کله چې واک یې ترلاسه کړ، طبعاً کراري راغلې. خو پوښتنه داده چې ولې یې تر اوسه لا د ټاکنو یا لویې جرګې له لارې ملت نه دی پوښتلی او خلکو سره یې څه سلا مشوره نه ده کړې- په دې ترځ کې زیاتره هغه بهرني دیپلوماتان او استازي چې موږ سره د اړیکو جوړولو تلوسه لري، هم وخت پر وخت ټینګار کوي چې امارت باید کورنی مشروعیت تر لاسه کړي چې نړیوال مشروعیت ته یې لاره هواره شي- که څه هم غربي نړۍ تر هر څه زیات د ښځو حقوق ډېر مهم ګڼي- البته دغه موضوع په کور د ننه خپله افغانانو کې هم ډېره توده تکرارېږي او زیاتره پاخه سیاستوال په ټینګار سره د امارت له مشرانو غوښتنه کوي چې په هر صورت باید یو څه مراسم ترسره کړي. په عمومي توګه اوس دلته دا مفکوره ډېره غالبه ده چې په سیاسي نظام کې له خلکو پوښتنه او د یوې شورا موجودیت خورا ډېر ضروری دی- تر دې چې اوس خوان زموږ عام ولس هم ډېر ښه پوهېږي چې که څه هم په نړۍ کې لس ګونه داسې حکومتونه واکمن او ټولو په رسمیت پېژندلي چې له لسیزو راهیسې د یوې کورنۍ، یوه قوم یا یوه ګوند له خوا اداره کیږي خو دا چې ظاهراً یې څه ناڅه شوراګانې، د خلکو استازي او د قانون په نامه څه جوړ کړي نو نړیوالو ته د قانوني حکومتونو په نامه ورپېژندل شوي- خو اسلامی امارت سره له دې چې ټوله تکیه یې پرخپلو خلکو ده، بیا هم، نړیوالو ته له خلکو جلا او ګوښه معلومېږي- یوازنۍ وجه یې همدا د نړیوال سیاسي عرف نه پرځای کول دي- ځکه خو په کار ده چې څو پورې له شریعت سره په څرګنده مخالفت و نه لري، موږ هم باید د همدغې زمانې له سیاسي دود سره سم څه ناڅه مراسم ترسره کړو- د مثال په ډول دا به کومه ناروا وي چې موږ د افغان ولس د سپین ږیرو، دیني علماؤ او نورو مخورو یوه جرګه راوغواړو او د همدې موجوده حکومتي جوړښت تایید او ۷مخ

### د اقتصادي پر مختګ پنځه اساسي نقطې!

۲ مخ

### نهال شانی و نقش فضای سبز در محیط زیست

۳ مخ

### د کب خلورویشتمه د هراتي مسلمانانو پاڅون!

۵مخ

## ورود یک بستهٔ دیگر ۴۰ میلیون دالری کمکی به کشور



شریعت: یک بستهٔ دیگر چهل میلیون دالری کمک‌های بشردوستانه به کابل رسید. د افغانستان بانک، دیروز در خبرنامه‌یی از رسیدن بسته کمکی چهل میلیون دالر امریکایی پول نقد به کابل، خبر داده ص۷

### کار او ټولنیزو چارو وزارت:

## بهرنۍ مرستې دې پر بنسټیزو پروژو ولګول شي

یو شمېر نړیوالې ادارې په افغانستان کې ورځ تربلې د بېوزلۍ او بې‌روزګارۍ کچې لوړېدو په اړه اندېښنې څرګندوي، خو د کار او ټولنیزو چارو وزارت چارواکي له نړیوالو مرستندویه موسسو غواړي چې خپلې بشري مرستې د خوراکي توکو پرځای په بنسټیزو پروژو ولګوي. د کار او ټولنیزو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال دین محمد حقبین له افغان کوریا ۷مخ

## د روژې په میاشت کې د نرخونو د کنټرول لپاره مو لازم تدابیر نیولي دي



سوداګرۍ وزارت د خوراکي توکو نرخونو د کنټرول هڅه پیل کړې ده سوداګرۍ وزارت وايي، چې سږ کال به د روژې په میاشت کې د خوراکي توکو نرخونه کنټرول او راښکته کړي. د دې وزارت ویاند وايي، چې د احتکار د مخنوي لپاره یې ځانګړې ټیمونه کار کوي او سږنۍ روژه کې به د لومړنیو توکو نرخو کنټرول کړي. د نوموړي په خبره، اوس مهال د لومړنیو توکو په بیو کې ۲۵ سلنه کموالی راغلی او هڅه کوي په دې برخه کې لا ډېر کار ترسره کړي. هر کال د روژې میاشتې په رانږدې کېدو سره ډېری وخت د لومړنیو په ځانګړي ډول د خوراکي توکو بیې لوړېږي، چې خلک یې په لوړه بیه د پیرلو توان نه لري.

## بازداشت ۲۳ تن در پیوند به جرایم جنایی

شریعت: بیست و سه تن در پیوند به سرقت، جعل اسناد، فروش داروهای غیرمجاز، نگهداری اسلحه غیر قانونی از سوی پولیس، بازداشت شدند. دفتر مطبوعاتی وزارت امور داخله روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: که پولیس در ۲٤ ساعت گذشته، بیست و سه تن را در پیوند به جرایمی چون سرقت، جعل اسناد، فروش داروهای غیر مجاز، نگهداری اسلحه غیرقانونی و سایر جرایم جنایی از مرکز و شماری از ولایت‌ها بازداشت نموده است. از این میان؛ چهار تن در پیوند به جعل اسناد و سه سارق از کابل، یک گروه پنج نفری از سارقان حرفه‌یی همراه با یک تن دیگر در پیوند به نگهداری پنج میل اسلحه غیرقانونی از کندهار، سه سارق از هرات، یک تن در پیوند به استفاده از کارت جعلی و دو فروشنده‌ی داروهای غیر مجاز از پروان، سه تن در پیوند به درگیری و مجروح ساختن سه فرد دیگر از ننگرهار و یک سارق دیگر از مربوطات فراه بازداشت شده اند.

## کندز کې سلګونو کورنیو پاکو اوبو ته لاسرسی پیدا کړ

شریعت: د کندز ولایت په چهاردرې ولسوالۍ کې د اوبو رسولو یوه شبکه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. کندز د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست مسؤلین وايي، چې یاده شبکه په لمریزې بریښنا سیستم سمباله ده، چې د ۹ میلیونو ۲۱۲ زره ۲۷۰ افغانیو په لګښت جوړه شوې ده. د یادونې وړ ده چې د یادې شبکې په بشپړېدو سره ۵۲۵ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي.

## هرات کې د ۲۰۰ زره ډالرو په لګښت یو عمومي سړک په اساسي ډول رغول کېږي

شریعت: د هرات ولایت د کشک کهنه او ګلران ولسوالیو عمومي سړک په راتلونکي کال کې په اساسي ډول رغول کېږي. د هرات د ټولګټو ریاست مسوولین وايي، چې د دغه ولایت د کشک کهنه او ګلران ولسوالیو عمومي سړک د سل کیلو مترو په اوږد والي د شاوخوا ۲۰۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت په راتلونکي کال کې په اساسي ډول رغول کېږي. د یادونې وړ ده، چې د دغه سړک په جوړېدو سره به د یادو ولسوالیو د اوسېدونکو د تګ را تګ ستونزې تر یوه بریده حل شي.

# د پروژو وروستی جګړه له خپل فطرت، احساس او نیکمرغی سره شوه!!

**جبریل سعد**

زموږ رسنيز فعاليت لـه هغـې صحنـې را پيـل او سـرچينه تـرې اخلـي چـې يـو مشـرك د جګـړې پـه وروسـتيو كـې د رسـول اللـه مبـارك صلـی اللـه عليـه وسـلم او ځـو مشـرانو اصحابانـو رضـوان اللـه عليهـم د نومونـو پـر اخيسـتو د هغـوی شـتون وپوښـت، خـو هـر ځـل ورتـه جـلا رسـول اللـه مبـارك صلـی اللـه عليـه وسـلم د ځـواب نـه ور كولـو ويـل او ښـايي دا ځكـه چـې د جهـاد موخـو د دوی شـتون او نـه شـتون پـورې تـړاو نـه درلـود او مشـرك تـه د پوښـتنې ځـواب هـم بـې ګټـې و، نـو چـې ورپسـې هغـه د اسـلام د كلمـې لوړوالـی چـې د جهـاد او رسـنيزې مبـارزې اصلـي موخـه وه او ده؛ تـر بريـد لانـدې ونيـو، سمدسـتي رسـول اللـه مبـارك صلـی اللـه عليـه وسـلم د ځـواب ور كولـو امـر وكـړ. دا وضاحـت د دې لپـاره چـې د خپـل مفهـوم لـه مخـې كـه تبليـغ د واقعيتونـو او حقائقـو رسـنيز انعـكاس دی او تـر ډېـره يـې بشـپړ مفهـوم جـوړوي، هغسـې تـرې پـه اخيسـتنه پروپاګنـد، اوازې، ډنـډورې، بـې بنسـټه افواهـات، شـائعې، سـپكې او بې هـوده خبـرې او كړنـې، خالـص دروغ او تزويـر، سـرچپه تعبيرونـه او اصطلاحـات، اغفـال بـازي او د فكـري جګـړې اغېزمـن توكـي هـم ټـول را نغـاړي چـې د قلـم، وينـا، اخلاقـو او شـخصيت عفـت پكـې تـر پښـو لانـدې وي او پـه اوسـني وخـت كـې چـې د نـړۍ پـه كچـه رسـنۍ او فعـالان يـې د پرديـو مـزدور او كرايـي ګرځېدلـي؛ يـاد رسـنيز انعـكاس يواځـي د مفهـوم يـوه برخـه ګرځېدلـې، نـور پكـې ډېـر نـه كارول كېـږي، نـو ځكـه زمـوږ تبليغاتي پوښـښ او انعـكاس د مبـارزې نـوم خپـل كـړی او اوس كـه مـوږ خپـل رسـنيز انعـكاس تـه د تبليـغ، تبليغاتـو او مبـارزې ټكـي كاروو، نـو مانـا دا چـې همغـه د تبليغ له مفهوم سـره سـم د واقعيتونـو او حقائقـو رښـتونی انعـكاس او پوښـښ دی چـې د دينـي لارښـوونو او ملي-افغانـي فرهنـګ پـه چـوكاټ كـې او ګټـو تـه يـې پـر كتـو د قلـم، وينـا او شـخصيت عفـت مـو هـم پكـې بشـپړ سـاتلی وي، ترڅـو لـه دښـمن سـره په تلـه او پرتلـه كـې را نشـو، مبـارزه او رسـنيز پوښـښ مـو د ځانګـړي سـبك پـه درلـودو زړونو تـه لاره وكـړي او عـام فكـر راخپـل كـړي، د دښـمن لـه هغـه پـر ښكـاره ځرګنـد او لـوړ توپير كـې اغېزمـن او پـر واقعيتونـو ولاړ وي او هغـه يې پـه هيـڅ ډول مقابله ونشـي كړلی او يـوه مهمـه ګټـه بـه دا هـم وي چـې دښـمن دلتـه نفـوذ ونشـي كـړی او پـرې د رسـنيز فعاليـت ځرګنـد توپيـر بـه مـو پـر اسـانۍ او سـادګۍ ژمـن فعـالان، رسـنۍ او خپـل رسـنيز توكـي د دښـمن لـه هغـو را وپېژندلـی شـي.

خـو د تبليغ/تبليغـات ټكـی اوس چـې د يـوې پراخـې جګـړې پـه توګه پېژنـدل كېـږي؛ يواځـي د دښـمنو ځرګندونـو لپـاره عـام دی. دا هغه ټكی، تعبيـر او عام پېژندنـه ده چې تـرې لانـدې د واقعيتونـو او حقائقـو لـه رښـتوني انعـكاس چـې اصلـي مفهـوم يـا يې د اصلـي مفهـوم زياتـه برخـه ده؛ پرتـه له پاتـې نـورو پورتنيـو د فكري جګړې رسـنيزو توكـو څخـه عبـارت ده او حكايـت تـرې كـوي، نـو ځكه دښـمن هـم چې كلـه زموږ مبـارزه او د واقعيتونـو او حقائقـو رښـتونی انعـكاس چـې هغـه يـې زغـم او د مقابلـې تـوان نشـي لرلـی؛ دروغ ثابتـول غـواړي، نـو د تبليـغ نـوم ور كـوي. تبليغـات هغه څه دي چـې كـه څـه هـم تېـر شـل كلـن صليبي اشـغال جګـړه ييز، سياسـي، فكـري او فرهنګـي، تبليغاتـي، اقتصـادي او د يـوې سـالمې ټولنـې د هـرې برخـې ويجـاړۍ د برنامـو پـر لرلـو هـر اړخيـز او يومخيـز و، خـو پايـه او بنسـټ يـې يواځـي پـر همدې تبليغاتـو، رسـنيو او اړونـدو ويجاړونكـو فعاليتونـو درول شـوی و، نو ځكـه چې څومره هـم يـې تبليغاتـي شـور او ځـوږ زمـوږ د مبـارزې پـه نتيجه كـې رسـوا او له ركود سـره مـخ كېـده، هغومـره يـې دغـه هـر اړخېـزې برنامـې لـه ماتـې سـره مـخ او پـر ټولـو ډګرونـو يـې جګـړه بايلـوده. دې نتيجـې بيـا(د سـالمې ټولنـې د هـرې برخـې ويجاړۍ تبليغاتـي بنسـټ او پـر وړانـدې يـې د واقعيتونـو رښـتوني انځورګـرۍ لـه مبـارزې وروسـته)يوې دريېمـې مونډنـې ته لاره پرانيسـته چـې اوس دواړه اړخونـه پوهېږي؛ لكه ځرنګـه چـې هـر اړخيـز او يـو مخيـز صليبـي اشـغال د همغسـې هـر اړخيـز او يـو مخيـز تبليغاتـي پوښـښ پـر مټ پـه لومړيـو كـې ښـه پـر مـخ لاړ، اسـلامي امـارت هـم بيـا پـه وروسـتيو كـې پـر همـدې مبـارزه او واقعيتونو ته پـر رښـتونو انعكاسـاتو او پوښښـونو ور كولـو سـره د بريـا هسـكو او هـوارو تـه ورسـېد او دا دقيقـاً هغـه وخـت چـې پـر تبليغاتـي پروپاګندونـو، اوازو، ډنډورو، بې بنسـټه افواهاتـو، شـائعو، سـپكو او بـې هـوده خبـرو او كړنـو، دروغـو او تزويـر، سـرچپه تعبيرونـو او اصطلاحاتـو، اغفال بـازۍ او پـه فكـري جګـړه كـې اغېزمنـو ټولـو توكـو او تخنيـك بانـدې د واقعيتونـو او حقائقـو رښـتونې انځـور ګـرۍ او رسـنيزه مبـارزه يې برلاسـې شـوه.

خـو چـې بياهـم پـه يـو نـه يـو ډول پـر دغـو واقعيتونـو او حقائقـو د ګـرد اچولـو هڅې شـوې وې او لا كېـږي؛ تـرې پـه اسـتفاده همغـو تـه پـه اوسـنيو شـرائطو كـې د يـوې نـوې تبليغاتـي بڼـې پـه ور كولـو اوس هـم ګټـه تـرې اخيسـتله كېـږي. د اشـغال د پـروژې پـه توګـه د اشـغال تپلي رژيـم يـو قومانـدان چـې د هېوادوالـو پـه عـام وژنـه كـې د جنرالـۍ نـوم ور كـړل شـوی؛ تېـره اونـۍ لـه ازادي راديـو سـره پـه مركـه كـې ويلـي چـې د اسـلامي امـارت پـر وړانـدې يـې ماتـې پوځـي نـه، بلكـې سياسـي وه، خـو نـړۍ ليـدل، ويـې ليـدل او وينـي يـې چـې بهرنـي اشـغالګر پوځيـان او تـه خـو پوځـي وې، نـو تـر سياسـيونو مخكـې ولې تېښـته درڅخـه وشـوه؟، سياسـي واك خو هـم پـر پوځـي ځـواك ولاړ و او ماتـې يـې د پوځـي ماتـې پايلـه وه چـې بيا دا سياسـي ماتـې هـم لـه پوځـي ماتـې وروروسـته او د هغـې د پټولـو لپـاره اشـغالګرو پـر ځـان ومنلـه او ستاسـو ماتـې خوړليـو پـر سـر د معاملې پـه توګه يې لاسـليك كـړه. دغـه راز داعشـي پـروژې د شـهيد مـلا محمـد داؤد مزمـل تقبلـه اللـه د شـهادت پر تـړاو خپره كـړې خبـر پاڼـه كـې زياتـه كـړې چـې پـه ننګرهـار كـې يـې پـر وړانـدې د اسـلامي امـارت مجاهدينـو د اشـغالګرو د الوتكـو پـه بدرګـه جګـړه كـړې وه، هغـه تـور او د هغـه واقعيـت اړونـد چـې پـرې د بشـپړې نـړۍ لـه سـرخلاصۍ سـره ټكـر او خپلـه د دغـو فتنـه ګـرو پـر تلليـو داعشـي خبيثـو ارواوو لعنـت وايـي، دوی فكـر نـه كـوي چـې هغـوی بـه يـې لـه قبرونـو پـر تماشـه وي چـې خبـره پـر كومـه روانـه شـوه؟، هغـوی خـو د اشـغالګرو د الوتكـو د سـاړه سـيوري او ګـرم بسـتر پـوروړي و او دوی بيا ګـوره چـې څـه ورپسـې وايـي؟ او پـه دې ډول د پرديـو اسـتخباراتو دغه پـروژې ګټنه او بايلنـه اوس پـر همـدې تبليغاتـو ولاړ انګېـري او دا ځل نوبـت خپل ګڼي، خـو د هېواد پـه اوسـنيو شـرائطو كـې چـې لـه سـولې، عفـوې او يـو غيور-مجاهد-بشـپړ-متحد ولـس سـره چـې ورسـره پـه جګـړه كـې كلـه هـم چا بريـا نـه ده تر لاسـه كـړې؛ چې ګرمـه او ياهـم همدغـه سـره جګـړه كـوي، پـر ناسـمه روان دي، سـوله فطـرت دی، ولـس هډونـه-احسـاس-روحيه ده او عفـوه د دې ټولـو نېكمرغـي ده، نـو چـې ورسـره پـر جګـړه شـې خيـر بـه هـم ښـه تـرې ترلاسـه كـړې!! د تبليغاتو او رسـنيزې مبـارزې دغـه اوږده او نـه پـرې كېدونكـې لـړۍ ښـيي چـې د هـر وخـت مـواد يـې د تېـر او راتلونكـي لپـاره د اسـتفادې وړ ګرځـي او د نـن تبليغات تېـر، اوس او راتلونكـي ټولو ته زيـان رسـولی شـي او پـر وړانـدې يـې مبـارزه هـم همغسـې د ريـو زمانـو لپـاره تلپاتې ګټـې لرلـی شـي.

# د اقتصادي پرمختګ پنځه اساسي نقطې!

**سليمان سعيد**



د رياسـت الوزراء د اقتصادي معاونيت د راپور پر اساس؛ سږ كال د حمل مياشـتې له لومړۍ نېټې، تر دې دمه د صادراتو كچه كابو ۱۹۰۰ ميليونو ډالرو ته رسېدلې. حال دا چې تېر كال د صادراتو كچه ۸۵۰ ميليونه ډالـره وه او تر هغه وړاندې كال د صادراتو كچه ۷۷۶ ميليونه ډالره وه.

د صادراتـو په برخه كې دومـره زياتوالی واقعاً د سـتايلو وړ دی، خصوصاً په داسې حالاتو كې چې ګردې نړۍ بنديزونه هم راباندې لګولي او د تجارت په برخه كې هم له ګڼو سـتونزو سره مخ يو. كه چېرې د نړيوالو بشردوستانو دغه بنديزونه نه وای، نو حتماً به مو تر دې څو چنده زيات پرمختګ كړی وای.

په هر صورت؛ زموږ هڅه بايد دا وي، چې تر خپله وسـه نور هم د خپـل اقتصادي پرمختګ پر لور ګامونه واخلو، د صادراتو په كچه كې زياتوالی راولو، د سيمې او ګاونډو له هېوادونو سره د اقتصادي ګټو او مشتركاتو پر اساس قوي اړيكې ولرو او بل خوا داسې طرحه هم جوړه كړو، چې بيا د نړيوالو بنديزونه هم راباندې تأثير ونه كړي او پر كور دننه خودكفا شو.

زموږ د اقتصادي پرمختګ او خودكفايي په برخه كې د صادراتو د زياتوالي په شمول، لاندې پنځه ټكي ډېر مهم رول لري:

۱-د صادراتو كچې زياتولو ته بايد همداسې دوام وركړو، له ګاونډيانو سره د اقتصادي ګټو او مشتركاتو پر اساس اړيكې نورې هم قوي كړو او د خپلو صادراتو لپاره بازار موندنه كې شپه ورځ هڅه وكړو.

۲-د وارداتو برخه بايد نوره هم كنټرول شي، د اولوياتو پر اساس دې هر څه ته اندازه وټاكل شي، اضافي، بې كيفيته او غير ضروري توكي دې بند، محدود او يا هم ماليه پرې زياته شي. تر څو زموږ له هېواد څخه پر غير ضروري توكو پيسې ونه وځي.

۳-چـې په هر صـورت وي، بايد د سـيمې او ګاونډ هېوادونه په افغانستان كې پانګونې ته چمتو كړو، ابتدائي مرحله ده، بايد فوق العاده امتيازات او اسانتياوې ورته رامنځ ته كړو. دغه كار موږ ته دوه فايدې لري، يو دا چې اقتصادي ډګر كې به پرمختګ وكړو او بل دا چې ياد هېوادونه به زموږ هېواد كې ښكېل شي، موږ سره به په ښه او بده كې شريک شي، له شره به يې په امن شو او د خپلو ګټو پر اساس به حتماً زموږ خوا نيسي، نو د نړيوالو له ګواښونو، بنديزونو او منزوي كېدو څخه به تر ډېره په امن يو.

۴-د زراعـت برخې ته توجه. تر هر څه لومړی بايد موږ خپله غله ولرو، دومره چې د پرديو له احتياجه مو بالكل خلاص كړي، بلكې هڅه مـو بايد دا وي، چې د غلو دانو برخـه كې نورې نړۍ ته هم صادرات ولرو، ځكه افغانسـتان يو زراعتي هېواد دی، كه رښـتيا خواري وكړو، موږ د زراعت له لارې دومره عوايد تر لاسـه كولای شو، لكه عربي هېوادونه يې چې د نفتو له لارې تر لاسه كوي. كله چـې زموږ غله خپله وي، نو له پرديو فرمايشـونو به خلاص يو او هغوی ته له سـوال زاريو به خلاص يو. او حقيقي خپلواكي همدا ده، چې په هره برخه كې د نورو له محتاجي، تجاوز او ضرر څخه په امن يو.

۵-د زراعـت تر څنګ، بايد د برېښـنا په برخه كـې هم ځان د خودكفايي تر حده ورسوو، ځكه چې له برېښنا پرته صنعتي ډګر كې هيڅ پرمختګ نه شو كولای. همدا اوس د برېښنا د كمښت له امله زموږ په سلګونو كارخونې په ټپه ولاړې دي.

كه دغو پورتنيو پنځو نقطو ته نور هم توجه زياته شـي، ان شاء الله ډېره لنډه موده كې به په اقتصادي ډګر كې د پام وړ پرمختګ وكړو، اقتصادي ستونزې به مو تر ډېره حل شي او ګڼ شمېر هېوادوالو ته به مو هم د كار روزګار زمينه برابره شي.

# مؤسسې ټولې دسيسې دي!

**مولوي نذير هلال**

مؤسيسـې د مسلمانانو د تسـخير كولو، له لوږې او فقر سره د مخ كولو، د بې كمال اموخته كولو، د مسـلمانانو د بې حيا او بې عزته كولو لـپاره د غربيانو او كافرانو دسيسې او مؤثر پلانونـه دي. د مؤسسـو په بد بختيو، مشـكلاتو او تاوانونو باندې كـه هرڅومره وغږيږو او ليكل ورباندې وكړو؛ نو كمه ده لنـډه دا چې په كوم ملک او ملت كې چې د مؤسيسـو په نوم مرسـتې كيږي او يا د مرسـتو په نوم موټـرې ګرځيږي، هغوی بيا خيـر نه دی ليدلی. اوس پوښـتنه داده، چې زموږ مسـؤليت څه شی ده او څه شـی كول راته پكار دي، غواړو په دې اړه لنډې مشـورې له تاسې سره ولرو. الف: لومړی كه ممكنه وي، چې په دوی تر ممكنه حده بنديز ولګول شـي او د فعاليت اندازه او كچه يې كمه شـي؛ خو دا به د في الحال لپاره سـتونزمنه مسـئله وي. بايد په فكـر كې مو وي. ب: د دوی د فعاليتونو، مرستو وېشـلو او له ولس سره د تعلق بايد په كلكه څارنه وشـي، د دوی اهداف او ارادې معلومې شي،

د مؤسسو په بد بختيو، مشكلاتو او تاوانونو باندې كـه هرڅومـره وغږيـږو او ليكل وربانـدې وكړو؛ نو كمه ده لنـډه دا چې په كوم ملک او ملت كې چې د مؤسيسو په نوم مرسـتې كيږي او يا د مرستو په نوم موټرې ګرځيږي، هغوی بيا خير نه دی ليدلی. اوس پوښـتنه داده، چې زموږ مسؤليت څه شی ده او څه شی كول راته پكار دي، غواړو په دې اړه لنډې مشورې له تاسې سره ولرو.

پـه اړه يې لازم اقدامـات او وقايوي فعاليت وشـي، د دوی په همكارانو(ترجمانانو، مسـؤلينو، كاريګرو) كې بايد خپل ملګري پيدا او يا هم اسـتخدام شي؛ تر څو د دوی په اړه په اسانې سره معلومات تر لاسه كړو.

ج: كوښـښ بايد وكړو، د دوی مرسـتې داسـې ځای او په داسـې طريقه ووېشـو، چې زموږ او يا هم زموږ د ولس ګټه ډېره وي، لكه داسـې كار ورباندې وكـړو، چې د ډېر وخت لپاره يې ګټـه وي( تنها خوراكي كومک او مرسـته نه وي)، مكتب يا جومـات ورباندې جوړول، د اوبو بندونه جوړول، درالايتام جوړول وغيره.

د: بـل كه ممكنه وي، د وېش داسـې طرزالعمـل او طريقه برابرول چې د غيرتي ولـس او خلكو تذليل، بې عزتي او تر خپل منځه جنګونه نه وي وركې.

په دې اړه بايد نور هم غږېدلي وی؛ خو ستاسـې مصروفيت راته معلوم ده اجازه نه راكوي. خو دغه وړكی كتاب(د كليسـا د پردو تر شـا پټ رازونه) كولی شـي زموږ پـه ذهن كې د مؤسيسو د شـيطاناتونو په اړه لږ خاكه او معلومات واچوي.

# آيا دوی ظالمان نه دي؟

**فريد احمد (مبارز)**

د تاريـخ په اوږدو كې ځينې پرنګيان مكـې مكرمې، مدينې منورې او د حجاز نورو سـيمو ته يا غلچكي يا د مسلمان په لباس كي يا په نورو ډولونو ورننوتلي دي!! چې ځينې يې مسـلمان سوي، ځينې وژل سوي دي او ځينې يې خپلو وطنو ته په رسـيدو سره خپلو واكمنانو ته د هغوی سياسي او ښـكيلاكي موخو د پلې كولو لپاره رپوټون او ليكنې وړاندي كړي دي پر دې سـربيره صليبي جګړمـارو د مكې مكرمې او مدينې د نيولو هڅې هم كړې دي!!

په ۵۶۷ سـپوږميز كال چې صليبي عيسـويانو عكا لاندې كړې وه، پر مدينه منوره باندې يې د ناپاک بريد كولو، د نبوي مسجد او د رسول الله (صلی الله عليه وسـلم) د مقدس قبر د وړانولو او د رسـول (صلی الله عليه وسـلم) د مبارک جسـد د وړلو پلان جوړ كړی وو!! ځينې وايي: د كرک د كلا رئيـس پرنس ارناټ په ځينو ماخذونو كي ريناډ او په ځينو كي ريناډ Renad ياد سـوی دی لوړه كړې وه چې هغه به د رسول الله (صلی الله عليه وسـلم) العياذ باالله له مدفن څخه د هغه مبارک جسد راكاږي او سوځي به يې.

په دې موخه هغه د ۵۷۷ سـپوږميز كال د امام حسـن او امام حسـين (رضي الله عنهم آجمعين) د مياشـتې په لومړۍ نېټه د يكشنبې په ورځ خپل پياوړی پوځ له عكا څخه د مدينې مورې پر لور وخوځا!! هغه د څو بېړيو ټوټې سره جلا كړې، پر اوښانو يې بار كړې، كله چې د ايله عقبې ته ورسيدی، د عقبې په خليج كي يې هغه ټوټې بيرته سره واچولې! او بيا يې د هغو څخه په استفاده ينبع ته نژدې د حوراء پر ساحل او قافلو بريدونه وكړل او د يوې ورځې په واټن مدينې منورې ته نژدې سول!!

دغه مهال د اسلام اتل غازي صلاح الدين ايوبي ډېر سخت ناروغه وو او پوځونه يې هره خوا د صليبيانو سره په جنګ اخته وو، مګر بيا هم د ايوبي كورنۍ يو قوماندان عزالدين فرخ شـاه چې چمتوالی يې هم نه درلود او په بل روايت كي حسـام الدين لؤلؤ د پرنس ارناټ مخنيوي ته ورغلی، داسـې يوه زوروره حمله يې پرې وكړه چـې د پرنس پوځ په زړونو مړي پرېښوول او نور يې وتښتيدل، چې له دې وروسته پرنس د ختيځ پر ارشو هيڅ ټينګ نه سو، او ارمانونه يې ګورته يوړل!!

ابن جبير (رحمة الله عليه)په خپله سفرنامه كي ددې پيښې يادونه كوي او وايي: كله چې اسـكندريې ته ورسـيدو ومو ليدل چې ډلې خلګ د رومي اسـيرانو ليدو ته ور درومي، اسيران يې چپه پر اوښانو سپاره كړي وو! ډول او سـرنا يې پسې وهله هغه د پوښتنو او د وركړل سوو معلوماتو پر اساس دغه كيسه كوي او وايي: دغو مسيحي پوځيانو د حاجيانو بېړۍ لوټ كړې وې!!

د حاجيانو شـپاړس (۱۶) بېړۍ يې سوځلي وې، بيا چې عيذاب نومي ځای ته رسيدلي وه د حاجيانو يوه بله بېړۍ يې نيولې وه! د عيذاب پر لار يې د حاجيانو بل كاروان لوټ كړی وو او ټول كاروانيان يې وژلي وو.

د يمن د سـوداګرو دوې نورې بېړۍ يـې چې د مكې مكرمې او مدينې منورې د يو كلنـي آذوغې څخه ډكې وې هم سـوځولې وې او د يوې ورځې پـه واټن مدينې منـورې ته نژدې سـوي وو، چې لـه مصر او اسـكندريې څخه د مسلمانانو بېړۍ پسې وروررسـيدې او له بله پلوه د نامتو حاجب لؤلؤ نومي په قومانداني هم مغربي سـمندرې پوځ پسې وروررسيد، چې د جګړې په پايله كي ځينې مسيحيان ووژل سول او ځينې اسير ونيول سول.

# د کب څلورویشتمه د هراتي مسلمانانو پاڅون!

ساجدالله عظمت

د اسلام ځلانده تاریخ له زرینو اصولو څخه ډک دی، د ژوند په هر ډګر کې قوانین او اصول لري، د جنګ تګلاره یې څرګنده ده او د سولې کولو کړنلاره یې هم د لمر په څېر روښانه ده. اسلام مجاهدین د ماشومانو، ښځو، زړو او کافرو عابدانو چې په خپلو عبادتخونو کې په عبادت مصروف وي؛ له وژلو ایسار کړي، خو اوسنیو کافرانو او پخوانیو هیڅکله د جنګ او سولې اصول نه دي مراعت کړي؛ بلکې تل یې له پښو لاندې کړي دي. مقدوني سکندر هم زموږ ډېر هېوادوال ووژل د افغانانو د ټولوژنې هوډ یې وکړ؛ خو خپل استاذ یې ایسار کړ. اما کله چې د کوبي دښتې وحشي چنګیز خان له خپل ټاټوبي مغلستان را ووت او په تاړاکونو یې لاس پورې کړ، د محمد خوارزمشاه تر واک لاندې ښارونه یې ونیول، بیا زموږ هېواد ته راغی او په قتل، غارت، وژنو او چور چپاول یې شروع وکړه. لنډه دا چې هر ښار یې نیولو نو هغه یې چور کولو، کله چې د غلغلې ښار ته ورسېده، هلته افغانانو مقاومت وکړ، تر دې چې د چنګیز لمسی (توموجن) د چغتایي زوی د غیورو افغانانو په لاس ووژل شو، نو وحشي پاچا له ډیرې غوسې د ټولوژنې امر وکړ، د هغې سیمې ټول وګړي یې له تېغه تېر کړل او بیا یې خپلو عسکرو ته وویل چې: حیوانات هم ووژنئ، چې هغو سرېخورو هماغسې وکړل. انګریزانو هم درې ځله زموږ پر هېواد نظامي یرغلونه کړي، هغوی هم د افغانانو په وژنه صرفه نه ده کړې، ډېر افغانان یې په شهادت رسولي دي، د اثبات له پاره د دوی د (۲۱ مې) پېړۍ شهزاده هري یادولی شو. هوا! د دارویِن له خپلخانې وروسته د مارکس، لینن او ستالین بچو په ۱۳۵۷/۲/۷ هـ.ش کال افغانستان کې کودتا وکړه، د افغانانو په وژلو، بندیانولو او تري تم کولو یې شروع وکړه، چې د مسلمانو هېوادوالو له خوا هم د پوهو علماؤ په فتوی سره ټول هېواد کې جهاد پیل شو او افغانانو د مبارزې ډګرونو او سنګرونو ته ودانګل، چې په دې سره یې د کمونست رژیم حوصله تنګه کړه. د ۱۳۵۷ هـ.ش د کب په دوهمه لسیزه کې د هرات مسلمانانو لومړی په غوریان او زنده جان ولسوالیو کې پاڅون وکړ چې وروسته نورو ولسوالیو ته هم وغځېده. هراتي مجاهدینو د کمونست رژیم خلاف پاڅون عام کړ، د کب په ۲۴ مه د هرات مرکز ته ورسېده او له کمونستانو څخه د کرکې او نفرت لوی سیلاب ترې جوړ شو. ناولي کمونست حکومت هم غلی نشو، زمکني او هوایي بریدونه یې پیل کړل؛ خو برعکس پاڅونوال مجاهدین تش لاسي وو، هیڅ ډول وسله ورسره نه وه، بس د الهي نصرت په هیله را وتلي وو. د هورا نارو وهونکو او د کور، کالي دوډۍ شعار ورکوونکو په تش لاسو مبارزینو باندې هوایي بریدونه تر پخوا ډیر کړل، خو مجاهدو مسلمانانو هم په ژوند له مبارزې لاس وانخیست، د الله اکبر نعرې تر هسکه ورسېدلې. د هرات خلک هم له مبارزینو سره یوځای شول او له څلورو واړو دروازو د هرات مرکز ته ورننوتل. د ښار ځینې سیمې یې ونیولې، بلخوا په ولسوالیو کې هم مبارزین په زیاتېدو شول، د هغه وخت والي نظیف الله نهضت او د ۱۷مې فرقې قوماندان سید مکرم د روسي جنرال ویسلوویچ تر قوماندې لاندې تصمیم ونیو، څو د مجاهدو مبارزینو د پرمختګ او زیاتېدو مخنیوی وکړي، نو په دې ورځ د پاڅونوالو مبارزینو پر لوري د کمونست رژیم برېښې واستول شول، چې په ترخ کې یې ډېر مبارز هېوادوال په شهادت ورسېدل او د هرات رادیو د پاڅونوالو د ماتې خبرونه خپاره کړل. د حوت په ۲۶مې نېټې د ۱۷مې فرقې ډېر افسران له مجاهدینو سره یوځای شول، دوی د یادې فرقې تحویلخانې د مجاهدینو له پاره خلاصې کړې، زیاته وسله او مهمات یې هغوی ته وسپارل، چې په دې سره مبارزه وسله واله شوه. د پاڅونوالو له خوا په ښار کې شبنامې خپرې شوې، له خلکو وغوښتل شول چې پاڅونوالو سره مرسته وکړي، نو یاده فرقه په بشپړ ډول د مبارزینو تر کنترول لاندې راغله. درې ورځې پرله پسې مبارزه روانه وه، له دښمن څخه لوری ورک و، نو له کندهاره تازه دم قواوې ورته راغلې، خونړۍ جګړه یې پیل کړه. د دښمن هوایي ځواک هم له شینډنډ څخه شدید بمبار کاو، چې په اساس یې ۲۵۰۰۰ هراتي مجاهدین شهیدان شول. د کب ۲۴مې پاڅون په ټول هېواد کې له ټولو ډېر شهیدان له ځان سره وړي، تر دې چې په اسیا کې یې ساری نه تر سترګو کېږي، بس یوازې د سورېې د (حماه) ټولوژنه چې د ۱۹۸۲ د فبرورۍ په میاشت کې پېښه شوه او ۳۰۰۰۰ کسان پکې ووژل شول، له دې پېښې څخه یې تلفات زیات دي. د کب ۲۴مه هر کال نمانځل کېږي، ځکه دا زموږ د حماسو ورځ ده، چې باید هر نسل ته یې کیسې ورسېږي.



# نهال‌شانی و نقش فضای سبز در محیط زیست

اسفندیار

همزمان با نزدیک شدن فصل بهار شاروالی کابل به منظور سر سبزی و افزایش ساحات سبز در نقاط مختلف شهر کمپاین نهال شانی را برگزار کرد و در ادامه این کمپاین هزاران اصله نهال غرس شد. نهالشانی و سرسبزی شهر کابل، یکی از موضوعات مهم محیط‌زیستی و حیاتی است. بنا بر این حالا که در استانه فصل بهار و موسوم نهالشانی قرار داریم، کمپاین عمومی نهالشانی و تشویق شهروندان برای شاندن نهال، یک مسئله مهم و ضروری است. چون نهالشانی و سرسبزی از بسیاری آلودگی‌های محیط‌زیستی، جلوگیری کرده و زمینه‌های بهتری زندگی را فراهم می‌کند. چه بهتر است که در کنار سرک‌ها، داخل حویلی‌ها، گوشه‌های سرک‌های فرعی و کوچه‌ها، در پیاده‌روها و پارک‌ها، نهال شانده شود. از سوی دیگر، از نهال‌ها و فضاهای سبز موجود باید مراقبت و مواظبت گردد. متأسفانه فعلاً بی‌احتیاطی‌های شهروندان و برخی عوامل دیگر، سبب نابودی فضاهای سبز و نهال‌ها شده است. انداختن زباله‌ها در وسط سرک‌ها و گلدان‌ها، شکستن نهال‌ها در پیاده‌روهای شهر توسط کراچی داران و دست‌فروشان، تجمع رمه‌های گوسفند در برخی نقاط، نرسیدن آب و بی‌احتیاطی‌های مردم و موتر داران، سبب از بین رفتن نهال‌ها و فضای سبز می‌گردد که با هزینه هنگفت و زحمات فراوان شانده شده است.

شهروندان باید از مزیت های نهال شانی و افزایش سرسبزی آگاهی حاصل کنند و این امر سبب میشود تا بیشتر در حفظ و نگهداری آن سهیم شود. چون تفریح و سیاحت، یکی از فایده‌های نهالشانی در شهر کابل است؛ سیاحت و استراحت در زیر درختان و تفریح سالم، یکی از نیازهای اساسی هر شهروند به شمار می‌رود. اگر فضای حویلی، کنار جاده‌ها و پارک‌ها دارای درخت و سرسبزی باشد، به‌راحتی می‌توان در سایه آن تفریح کرد. در فصل تابستان که هوای شهر کابل گرم می‌شود، فضای سبز و درختکاری، بسیار ضروری است.

بهبود محیط‌زیست، از دیگر فایده‌های درختکاری و نهالشانی است. نهال سبب کاهش آلودگی هوا، زیبایی محیط، کاهش آلودگی صوتی و دیگر مشکلات محیط‌زیستی می‌گردد. درختان باعث انکسار و کاهش فشار صدا می‌گردد و نمی‌گذارد که اثرهای منفی آن بالای افراد بیشتر اثر کند. همچنان زمین را در مقابل حوادث طبیعی محکم و مقاوم نموده و جلو گردوخاک را می‌گیرد. وقتی‌که نهال‌ها و درختان وجود داشته باشد، جلو گردوخاک گرفته می‌شود. همچنان تعدیل آب‌وهوا و تأمین آکسیجن از دیگر فایده‌های نهالشانی است. به هراندازه که در کشور در بخش غرس نهال و مراقبت از آن توجه شود، به همان اندازه آب‌وهوا بهتر می‌شود و آکسیجن کافی به وجود میاید. آب‌وهوای مناسب یکی از نیازمندی‌های اساسی شهروندان را تشکیل داده و برای سلامتی و صحتمندی مفید است.

تقویت منابع آبی از دیگر مزیت‌های درخت‌کاری است؛ به گفته آگاهان، نهال سبب می‌شود تا میزان نفوذ آب در زمین بیشتر گردیده و سفره‌های زیرزمینی تغذیه گردد. ازآنجایی‌که تهدید خشک‌سالی در کابل سال‌به‌سال رو به افزایش است و بیشتر شده می‌رود؛ نهالشانی یکی از موارد مهم و ضروری به شمار می‌رود.

زیبایی شهر و احساس آرامش شهروندان، از دیگر مزیت‌های نهال است. درخت و سرسبزی سبب شادابی و زیبایی محیط می‌گردد. وقتی‌که حویلی ها، کنار جاده‌ها و سرک‌ها، پارک‌ها و حتی تپه‌های شهر کابل سرسبز باشد، شهر بسیار مقبول دیده می‌شود و مردم احساس آرامش می‌کنند. شهر پاک، زیبا و خوش‌نما، یکی از نیازهای اساسی مردم است.

با توجه به مزیت‌های درخت‌کاری می‌توان به چند راه هکار اشاره کرد. راه‌اندازی کمپاین عمومی برای نهالشانی و تشویق مردم برای غرس نهال، اولین و مهم‌ترین راهکار است. این کمپاین نه تنها در کابل بلکه سرتاسری باشد، باید در شبکه‌های اجتماعی، تلویزیون‌ها، رادیوها و تابلوها، از طریق مکاتب و پوهنتون‌ها، به شکل گسترده صورت گیرد. در این کمپاین‌ها باید فایده‌های نهالشانی به مردم بیان شود و برای آنان انگیزه داده شود. برای تشویق بیشتر، باید به پایین آوردن قیمت نهال‌ها، کیفیت آن و در دسترس قرار دادن آن در مکان‌های عمومی، توجه شود.

مراقبت از نهال‌ها، از دیگر پیشنهادها است. هر شهروند در هنگام رفتن به پارک‌ها و عبور از نزدیک نهال‌ها، مراقب آن باشند تا آسیبی به آن نرسد. شکستن شاخه‌ها، انداختن زباله، گشت‌وگذار در اطراف نهال‌ها، بند ساختن مسیر آب، از نمونه آسیب‌هایی است که از سوی شهروندان متوجه نهال‌ها و فضاهای سبز می‌گردد.

در نظر گرفته شدن مکان برای غرس نهال در سطح شهر، در کوچه‌های که تازه پخته و کانکریت شده است، پیاده‌روهااز دیگر پیشنهادها است. در زمان ساخت، انجنیران و کارگران باید جای غرس نهال را در نظر بگیرند تا در آینده کسی مجبور نشود به خاطر غرس نهال، سمنت ها را تخریب کند.

انتخاب نهال‌های مناسب از دیگر راهکارها است. مسئولان شاروالی، وزارت زراعت و محیط‌زیست باید نهال‌های را



وارد شهر کابل کنند یا اجازه ورود بدهند که با خاک و هوای این شهر مطابقت داشته باشند و زود رشد کنند. وقتی‌که نهال‌ها ضایع نشود و نتیجه بدهد، همه مردم علاقه‌مند شاندن نهال خواهند شد. نهال‌های معیوب و نهال‌هایی که سازگاری نداشته باشند، هم سبب حیف پول و دارایی مردم می‌شود و هم باعث دلسردی و تضعیف فرهنگ نهالشانی می‌گردد.

در نتیجه باید گفت که هر شهروند در قسمت شاندن نهال توجه کند و از آن مراقبت نماید، چون بهبود وضعیت محیط‌زیستی، تقویت منابع آبی، زیبایی شهر، راحتی و آسایش شهروندان، تعدیل آب‌وهوا و حتی مزیت های اقتصادی و تولید میوه و چوب را به همراه دارد.

# باغ‌داری و نهال‌شانی در پرتو ساینس و قرآن

بخش نخست - ابوالیاس جهادوال

در این روزها شاهد کمپاین وسیع نهال شانی در افغانستان هستیم که همه ساله از اوایل ماه حوت آغاز و تا اواخر ماه حمل ادامه می‌یابد و طی آن میلیون‌ها اصله نهال از سوی مردم و نهادهای مسوول امارت اسلامی در بخش های مختلف کشور غرس می‌شود.

در مراسم آغازین این کمپاین مسوولان امارت اسلامی نیز با اشاره به اثرات زیانبار جنگ‌های چهاردهه گذشته به محیط زیست کشور، مردم را تشویق به غرس نهال و حفظ و نگهداری آن نمودند، تا از این طریق بتوانند این اثرات زیان بار ناشی از استعمال مواد کیمیاوی را که از سوی اشغالگران به محیط زیست وارد شده است، کاهش دهند. بناءً در این نوشته تلاش شده تا با توجه به پیشینه باغ‌داری به ارزش مادی و معنوی درختان پرداخته شود.

**پیشینه‌تاریخی:**

تاریخچه باغ‌داری به ۳۰۰۰ هزارسال قبل از میلاد در مصر بر می‌گردد که در آن زمان مصریان درختان چون انگور، خرما و زیتون را غرس می‌کردند و برای تولید این محصولات عملیاتی چون شاخه‌بری، آبیاری وآماده سازی زمین را انجام می‌دادند. سپس مردم روم و یونان قدیم نیز به این پیشه رو آوردند « varo Marcus T» ۳۷ سال قبل از میلاد در کتاب خود به‌نام «Roman farm management » از انگور، ناک ،سیب ،انجیر ،خرما و میوه جات مغزدار یادآوری کرده است و «Elder plane » نیز ۷۷ قبل از میلاد درکتاب خود به‌نام تاریخ طبیعی در رابطه به تربیه برخی میوه جات معلومات ارائه نموده است به‌طور مثال وی در کتاب خود از ۴ نوع بهی، ۶ نوع شفتالو، ۹ نوع گیلاس، ۹ نوع آلو، ۲۹ نوع انجیر و۴۱ نوع ناک نام می‌برد. هم‌چنان رومیان ۵۰۰ سال قبل از امروز با عملیات پیوند زدن، تناوب زراعتی و مصرف کود حیوانی آشنایی داشتند.

متعاقباً در اواخر قرن پنجم میلادی و با گسترش اسلام و پیشرفت علمی زراعت و باغ‌داری از اهمیت زیاد در نزد مسلمانان برخوردار شد. طوری‌که بسیاری از کشورهای اسلامی چون عراق ،شام و هند به تولید محصولات مختلف باغی رو آوردند. دراوایل قرن چهاردهم میلادی باغ‌داری در ایتالیا وفرانسه پیشرفت چشیم گیری داشت به دنبال آن کشف سلول توسط رابرت هوک. طبقه بندی عملی گیاهان توسط کارلینه ومطالعات پیاپی گرگور مندل ازمهم ترین نوآوری واکتشافات این دوره طی قرون شانزده میلادی محسوب می‌شود. درنهایت درطی قرن بیستم باپیشرفت درزمینه های مختلف علوم به ویژه تولید وکشت تخم های اصلاح شده، کود، ادویه جات کیمیاوی و ماشین آلات زراعتی تحولات بسیاری درزراعت وباغ‌داری صورت گرفت؛ طوری‌که پیشرفت این عرصه در صدسال گذشته (به خصوص درسی سال اخیر) بیش از صدقرن قبل ازآن تخمین شده است.

**نهال‌شانی و باغ‌داری از دیدگاه قرآن:**

در قرآن کریم در اغلب موارد تحت عناوین گوناگونی از درخت با واژه «شَجَر» سخن به‌میان آمده است که به‌طور نمونه به چند واژه آن اشاره می کنیم:

در سورة مبارکة «نمل»، پس از اشاره به آفرینش آسمان‌ها و زمین و نزول باران از آسمان، به رویش باغ‌ها اشاره شده و انسان را به این نکته مهم متوجه می‌کند که به کیفیت ایجاد حیات در درختان بنگرد:

ترجمه: یا آن خدایی که آسمان‌ها و زمین را خلق کرده و از آسمان برای شما باران فرستاد تا به آن درختان و باغ ها را در کمال سبزی و خرمی رویاندیم که هرگز شما (از پیش خود) قادر بر رویانیدن آن درختان نبودید؟ آیا با وجود خدای یکتا خدایی هست؟ (هرگز خدایی نیست) بلکه این مشرکان (از نادانی) روی (از خدا) می گردانند. قرآن کریم هم‌چنان از درختان و گیاهان، به عنوان «متاع» زنده‌گی انسان یاد می کند و گاهی نیز آنها را «معیشت»، یعنی وسیله برآوردن نیازهای انسان می‌شمارد و برایشان کرامت و شأن ویژه ای قائل است. چنانچه در سورة مبارکة عبس می‌فرماید:

ترجمه: «آدمی باید به غذای خود بنگرد، ما باران را از آسمان فرو فرستادیم. آن گاه، سینه زمین را شکافتیم و در آن، دانه‌ها رویاندیم و انگور و سبزی و درخت زیتون و خرما و باغ‌های بزرگ با درختان ستبر و میوه و مرتع برای بهره گیری شما و چهارپایانتان».در آیة ۸۰ سورة مبارکة یس به برافروختن آتش که از ضروریات زنده‌گی آدمی است، اشاره می‌شود: ترجمه:«همان کسی که برای شما از درخت سبز، آتش آفرید و شما به وسیله آن، آتش می افروزید».

این آیة شریفه یکی از نشانه های قدرت خداوند(ج) را آفرینش آتشی می‌داند که از درخت سبز تولید می شود؛ زیرا بسی شگفت آور است که چگونه درختی سبز که سایه خنک و روحبخش آن، آدمی را از آسیب گرما و اشعه سوزان خورشید در امان نگه می دارد در فرآیندی دیگر، تبدیل به آتشی افروخته می گردد که می تواند همه چیز را در کام مرگ و نیستی فرو برد. این نیست، مگر به اعجاز و قدرت پروردگار توانا.

علاوه بر آن موجوداتی دیگر به جز انسان نیز از درختان بهره می‌برند. در سوره «نحل» می‌فرماید: :ترجمه:«پروردگار تو به زنبور عسل وحی کرد که در دل کوه‌ها و در میان درختان و بناهایی که می‌سازند، لانه گزین؛ سپس [وحی فرمود بدو که] از شکوفه ها بخور و راه های پروردگارت را مطیع آرام بپیما. از شکم هایشان عسل بسیار شیرین به رنگ های گوناگون بیرون می آید که شفا بخش درد انسان هاست و در این نشانه هایی است برای کسانی که می اندیشند».

بر اساس این آیة شریفه، زنبور عسل که حشره بسیار مفیدی است،به نحو غریزی و تکوینی از جانب خداوند مأمور است تا از شاخه های بلند و سرسبز درختان برای مسکن بهره گیرد و بتواند به سهولت به مواد اولیه لازم برای تولید عسل دست پیدا کند. هم‌چنان در اية ۱۰ سورة نخل فرموده است: ترجمه «اوست کسی که از آسمان، آبی گوارا نازل می کند که می آشامید، و از آن درختانی می رویاند که حیوانات خود را در آن به چرا می برید».در این آیه تأمین غذای حیوانات اهلی و برخی حیوانات غیراهلی نیز از کارکردهای درختان به شمار می رفته است.

ادامه دارد...

# ځنګلونه د هیواد طبیعي شتمني ده

**شاه محمود درویش**

ځنګلونــه پــه حقیقــت کــې د هیــواد طبیعــي شــتمنی ده پــه ســاتنه او پالنــه کــې یــې هیــوادوال هــم ګــډ مســوولیت لــري، البتــه سمســور ځنګلونــه او زرغونــی ســیمی د هــر هیــواد پــه ښــکلا او دچاپیریــال پــه هراړخیــز خوندیتــوب کــې هــم ســتر ارزښــت لــری، ځکــه همــدا ځنګلونــه د ژمــی پــه موســم کــې د واورو انبارونــه پــه خپلــو غیږوکــې ســاتی او بیــا دپســرلی پــه مهــال د غرونــو پــه رګونــو کــې ننــوزی، دکاریزونــو او دچینــو داوبــو دزیاتوالــي لامــل ګرځــي او پــه ټولیــزه توګــه ژوندیــو موجوداتــو تــه ژونــد، خونــد، رنــګ او ښــکلا وربخښــی او هــم دخطرناکوســیلاوونو د راوتلــو مخــه نیســي، لــه شــک پرتــه چــې دطبیعــی منابعــو پــه لړکــې ځنګلونــه هغــه ســتره پانګــه او شــتمني بلــل کېږي چــې دملــی اقتصــاد پــه پیاوړتیــا کــې مهــم رول لوبــوی، لــه بلــه پلــوه دهیــواد د چاپیریــال پــه پاکوالــي کــې هــم ســتر ارزښــت لــری، البتــه زمونــږ پــه ګــران هیــواد کــې ددغــی شــتمنی دســاتنی، ودی او پراختیــا لــه پــاره د ځنګلونــو دســاتنی او څارنــې پــه موخــه مســوول ارګانونــه ګمــارل شــوی او پــه دی برخــه کــې پــه هراړخیــزه توګــه هڅــه اوهانــد کــوی او ددی ترڅنــګ خلــک هــم بایــد د ځنګلونــو پــه ســاتنه، وده او پراختیــا کــې فعالــه ونــډه واخلــی، چــې لــه بــده مرغــه پــه تیــرو څــو کلونــو کــې زمونــږ پــه ټــول هیــواد کــې ډیــری ځنګلونــه پــه مختلــو طریقــو (دځینــو بهرنیــو هیوادونــو دمغرضــو کړیــو او دهیــواد د زورواکــو ترمنځ د جوړښــتونو او سازشــونو لــه املــه) لــه منځــه وړل شــوي دي، البتــه زمونــږ پــه هغــو ولایتونــو کــې چــې تریــوه حــده ځنګلونــه شــتون لــری د مســوولو ارګانونــو او ځایــي خلکــو لــه خــوا باید دهغــي څارنې، پالنــې او پراختیــا تــه ډیــره پاملرنــه وشــي او له وهلــو څخه یې خــو بایــد پــه جــدي ډول مخنیوی وشــي ځکــه چــې ځنګلونه د هیــواد ملــي او طبیعــي شــتمنی بلــل کېږي، نــو پــه حقیقت کــې ددغــه ملــي شــتمنی ســاتنه او څارنــه د هرپتمن هیــوادوال انســاني وجیبــه ده، البتــه دغــه ځنګلونــه بــه هغه وخــت زمونږ د اړونــدو ولایتونــو د پتمنــو او غیرتمنــو خلکــو پراقتصــادي او عایداتــي ژونــد مثبتــې اغیــزې وکــړي چــې پــه هراړخیــزه توګه یــی کلکــه ســاته او څارنــه وشــی اوترڅنــګ یــی هــم د هغــو لــه لرګیــو څخــه دســمې ګټې اخیســتلو پــه موخــه په بیــلا بیلو ولایتونــو کــې فابریکــې جــوړې شــي، نوبــې لــه شــکه کــه چېــری د هیــواد د ځنګلونــو د ســاتنې، ودې او پراختیــا لــه پــاره جــدي او هراړخیــزه پاملرنــه ونــه شــی نــو پــه یقیــن ســره ویلی شــو چــې د اړونــدو ولایتونــو ښــکلي ځنګلونــه او سمســورې ســیمې بــه پــه بشــپړه توګــه پــه ســپیرو ډاګونــو بدلــې شــي او په دې توګــه بــه نــه یــوازی قدرمــن هیــوادوال دخپلــې اقتصــادي پیاوړتیــا ســرچینې او شــتمني له لاســه ورکــړی، بلکې د داســی یــو چاپیریــال خاونــدان بــه شــي چــې ژونــد کــول بــه هــم پــه کــې ســتونزمن او حتــی ناشــوني وي، پــردي بنســټ ډیــره اړینــه او ضــروری ده چــې د اســلامي امــارت اړونــد مســوول ارګانونــه بایــد د ځایــي اوســیدونکو په بشــپړه همــکاري د هیواد پــه ګــوټ ګــوټ کــې طبیعــی ځنګلونــه چــې بیــت المــال او دګــران هیــواد د هــر وګــري شــتمني بلــل کېــږی، دلــه منځــه تللــو لــه خطرونــو څخــه وژغــوري ترهغو چــې دغــه ځنګلونه چــې پــه حقیقــت کــې د چاپیریــال پــه پاکوالــی او د وګــړو دروغتیــا او ســلامتیا پــه خوندیتــوب کــې ســتر اومهم ارزښــت لــری لــه هراړخیــزو ګواښــونو او نابــودي څخــه وژغــورل شــي او دهیــواد پــه ګــوټ ګــوټ کــې د ځنګلونــو دســاتنی، ودی، احیــا او پراختیــا لــه پــاره ځانګــړې او جــدي پاملرنــه وشــی، همداشــان ځایــی اوســیدونکي هــم بایــد د ځنګلونــو دســاتنی او څارنــی پــه برخــه کــې د اســلامي امــارت لــه مســوولو ارګانونواومراجعــو ســره پــه پرلــه پســی ډول خپلــه مرســته او همــکاری جــاری وســاتی ترهغــه دغــه ځنګلونــه چــې د هیــواد طبیعــی اوملــی شــتمنی بلــل کېــږی او دهیــواد دملــی اقتصــاد پــه پیاوړتیــا کې ســتر ارزښــت لــری، نوســاتنه یــی هــم پــه حقیقــت کــې د هرهیــوادوال انسانی وجیبــه ده، پــردی بنســټ پــه هــرراز شــرایطو کــې بایــد هیڅاتــه ددې اجــازه ورنــه کــړل شــي چــې ددغــه ملــي شــتمني لــه منځــه وړلــو ســبب شــي. پــه دی هیلــه چــې پــه ټولیــزه توګــه ټــول هیــوادوال د ملــی او هیوادنــي ســپیڅلي احســاس لــه مخــی هڅــه وکــړي چــې د اســلامي امــارت د اړونــدو مســوولو ارګانونــو ســره د بشــپړې مرســتې او همــکاری له مخــې دهیواد پــه ګــوټ ګــوټ کــې موجــوده ځنګلونــه دنابــودي لــه شــته خطرونــو څخــه وژغــوري او پــه دی توګــه د چاپیریــال پــه خونــد یتــوب کــې خپلــه ونــډه پــه بشــپړه ږښــتینولی ادا کــړي تــر هغــه چــې لــه املــه یــې هیــواد مــو پــه هراړخیــز ډول سمســور او د ژوندانــه چاپیریــال مــو هــم لــه هــره پلــوه تــل خونــدي شي.

# علم جغرافیه د ټولو علومو مور ده

**مولوي کریم الله کامران**

علــم جغرافیــه یــو ګټــور او پــه زړه پــوري ســتر علــم دی، علــم جغرافیــه د مځکــې لــه طبیعــي، سیاســي، دینــي، اقتصــادي، تاریخــي، فکــري او اجتماعــي جوړښــتونو څخــه بحــث کــوي او د مځکــې د هــرې برخــې د اوســیدونکو انســانانو او د هغــوی د ژونــد د طــرز او طریقــې مطالعــه پــه کــې کیدلــی شــي، علــم جغرافیــه پــه اوســني پرمختللــي دور کــې د یــو اهمیــت لرونکــي او ارزښــتناک علــم پــه توګــه منــل شــوې ده، علــم جغرافیــه پــه هــر ډول علــم کــې څــه ناڅــه برخــه لــري، زیاتــره علــوم پــه ځینــو ځایونــو کــې جغرافیــې تــه دومــره اړتیــا لــري، چــې د جغرافیــې لــه علــم پرتــه هغــه علــوم نیمګــړي او ناتمــام دي، آن د ځینــو علومــو لــوی لــوی برخــې پــر علــم جغرافیــه مشــتملې دي، لــه همــدې املــه علــم جغرافیــه د ټولــو علومــو مــور (Mother of all Sciences) بلــل شــوې ده.پــه علــم جغرافیــه کــې پــر مځکــه د ټولــو موندونکــو قدرتــي او طبیعــي شــکلونو او جوړښــتونو لــه بیلابیلــو زاویــو څخــه پوهــه ترلاســه کیدلــی شــي، د غرونــو، بیدیــاوو، ســمندرونو، ســیندونو، لویــو اوبــو ډمونــو، او ځنګلونــو پــه اړه ډول ډول معلومــات او ادراکات پــه کــې پراتــه دي، د دې ترڅنــګ علــم جغرافیــه پــه نــوې ساینســي ټکنالوجــي، د جیوګرافــی د معلوماتــو سیســتم (G.I.S) او کارټوګرافــی (نقشــه ســازۍ) کــې پــه خــورا لــوړ معیــار مرســته او کومــک کوونکــی پیژنــدل شــوی دی، او پــه نړیوالــه کچــه پــه همــدې ډګــر کــې علــم جغرافیــه ټولنــه او ملــت د ترقــی، پرمختــګ او بریالیتــوب لــه صلاحیتونــه او اســتعدادونو څخــه برخمــن کوي.سیاســي جغرافیــه د لمــر پــه څیــر روښــانه ده، سیاســي جغرافیــه د مځکــې پــر مــخ د ســلګونو هیوادونــو موجودیــت او د هغــوی یــو تــر بلــه ویــش څخــه عبــارت ده، چــې د نــړۍ د سیاســي معلوماتــو او تحولاتــو پــه اړخ کــې ډیــره مرســته او تعــاون کوونکــې ده، سیاســي جغرافیــه انســان د مځکــې پــر مــخ لــه هــر ډول سیاســي تحرکاتــو او نوښــتونو څخــه پــه کــره او کوټلــي توګــه اګاه کــوي، دینــي جغرافیــه د مځکــې د هغــه برخــې څخــه عبــارت ده، چــې د یــوه دیــن او یــا ډیــرو ادیانــو د پیدایښــت او پایښــت مختلــف اســرار ه پــوري تړلــي وي، د بیلګــې پــه توګــه اسیا د ټولــو اسماني دینونــو راټوکېدونکــې جغرافیــه ده، ځکــه د ټولــو اسمــاني دینونــو تمرکــز پــر اســیا دی، د پیدایښــت او پایښــت پیــاوړی او ځواکمــن موقعیــت یــې اسیا ده، نــو د اســماني دینونــو پــه ارتبــاط د مځکــې د دې برخــې څېړنــه او ارزونــه دینــي جغرافیــه ده، همداســې قرانــي جغرافیــه د مځکــې د هغــه ټولــو برخــو څخــه عبــارت ده، چــې د هغــو برخــو پــه اړه پــه قرانکریــم کــې بیانونــه راغلــي دي.د مځکــې پــر مــخ د هیوادنــو اقتصــادي حالــت یــو ډول نــه دی، ځینــي لــه اقتصــادي اړخــه د ارتقــاء پــه حالــت کــې دي، د ځینــو اقتصــادي حالــت ورځ تربلــې ذوب کیــږي، د مځکــې د یــوې برخــې د اقتصــادي وضعیــت د صعــود د بلــې برخــې د اقتصــادي وضعیــت د نــزول او عمومــاً د مځکــې د ټولــو برخــو د اقتصــادي وضعیــت څخــه بحــث اقتصــادي جغرافیــه بلــل شــوې ده، همداســې علــم تاریــخ د علــم جغرافیــې پرتــه نیمګــړی او ناتمــام دی، د علــم تاریــخ د تکمیــل او بشــپړتیا راز پــه علــم جغرافیــه کــې نغښــتی دی، ځکــه د کومــو ملتونــو، قومونــو، شــخصیتونو او افــرادو پــه اړه چــې تاریــخ خبــري کــوي، هغــوی بــه حتمــاً د مځکــې پــه یــوه برخــه کــې ژونــد کــړی وي او د مځکــې لــه یــوې برخــې ســره بــه تــړاوو لــري، نو د تاریخــي واقعیتونــو لــه اړخــه د مځکــې د بېلابیلــو برخــو څخــه تاریخــي جغرافیــه بحــث کــوي.

> تر ټولو ستر حقیقت دا دی، چې په اسلامي ټولنه کې علم جغرافیه د لویدیځ او ختیځ د فزیکي، فکري، کلتوري او هـرډول یرغل په مخنیوي کې مهم رول لوبولی شي، د شرق او غـرب ټول طاغوتي افکار او اندونه ردولی شي، که مسلمانان عموماً د ټولې اسلامي نړۍ او په ځانګړې توګه د اندلس، فسلطین او داسي نورو په اهمیت لرونکي جغرافیه له وړاندې پوهیدلی، نو هیڅکله به د لویدیځ او ختیځ ښاماران د مسلمانانو پر ځیني اهمیت لرونکو هیوادونو پراته نه وای او نه به یې د مسلمانانو په ځینو هیوادونو کې خپل مرګوني زهر پاشلي وی

تــر ټولــو ســتر حقیقــت دا دی، چــې پــه اســلامي ټولنــه کــې علــم جغرافیــه د لویدیــځ او ختیــځ د فزیکــي، فکــري، کلتــوري او هــرډول یرغــل پــه مخنیــوي کــې مهــم رول لوبولــی شــي، د شــرق او غــرب ټــول طاغوتــي افــکار او اندونــه ردولــی شــي، کــه مســلمانان عمومــاً د ټولــې اســلامي نــړۍ او پــه ځانګــړې توګــه د اندلــس، فسلطین او داســي نــورو پــه اهمیــت لرونکــې جغرافیــه لــه وړانــدې پوهیدلــی، نــو هیڅکلــه بــه د لویدیــځ او ختیــځ ښــاماران د مســلمانانو پــر ځینــي اهمیــت لرونکــو هیوادونــو پراتــه نــه وای او نــه بــه یــې د مســلمانانو پــه ځینــو هیوادونــو کــې خپــل مرګونــي زهــر پاشــلي وی، د اســلامي امــت تللــی بــرم هــم هغــه وخــت بیرتــه اعــاده کیدلــی شــي، چــې مســلمانان د لویدیــځ او ختیــځ تــر تســلط لانــدې د اســلامي نــړۍ بشــپړه جغرافیــه وپیژنــي، د علــم جغرافیــې پــه هینــداره کــې د نــړۍ او ســلامي نــړۍ لــه ټولــو زاویــو او اړخونــو څخــه باخبــره اوســي او پــه دې اړه پــه اســلامي ټولنــو کــې عامــه پوهــاوی رامنځتــه کــړي.

نــو د دینــي او عصــري علومــو د ګلبــڼ ټولــو ترېــو بلبلانــو تــه مــو سپارښــتنه همــدا ده، چــې هــر علــم د لعلونــو او قیمــت بهــا ملغلــرو یــو ســتر ســمندر دی، خــو علــم جغرافیــه پــه هــر ســمندر کــې د قیمــت بهــا ملغلــرو د موندلــو او تــر لاســه کولــو آســانه لار ده، نــو پــه علــم جغرافیــه ځــان آګاه کــړئ، چــې پــه هــر ســمندر کــې پــه آســاني ســره لعلونــه او قیمــت بهــا ملغلــري لاســته راوړئ، او د دې ترڅنــګ د اســلامي نــړۍ بشــپړه جغرافیــه وپیژنــئ، تــر څــو د اســلامي امــت تــر لاس لانــدې مځکــو بانــدې د لویدیــځ او ختیــځ ټولــې دوکــې، فریبونــه او دسیســې درتــه معلومــي شــي، د هغــوی د هــر ډول یرغــل د مخنیــوي لپــاره هلــې ځلــي پــه کار واچــوئ.

# د پوځ اصلاح او تزکیه مهمه ده!

**حسان مجاهد**

د پوځ روزنه دوه ډوله ده:

۱_ اول د ظاهري دښــمن په وړاندې لکه: د وســلو زده کړه، بدني روزنه، چټک او منظم پلانونه، تدریــب، مســلکیتوب، ځمکني او هوایــي تمرینات او ورســره په پوځي یونیفــورم او تجهیزاتو سمبالیدنه.

۲_ د پټ دښمن(نفس/شــیطان) په وړاندې مبارزه، باطني تزکیه او تربیه، الهي ارشاداتو ته ژمنتیا، د دین په هره جزیه عمل، د ظاهر او باطن اصلاح او هرقول، فعل، حرکت او ســکون د الله تعالی لپاره کول.

په دې لیکنه کې غواړو، د پوځ په دوهم ډول روزنه خپل نظر روښــانه کړو.

مســلمانانو هغه مرحله طی کړه، چې په نتیجه کې یې اســلامي نظام قایم او د فتنو تغر ټول شــو. اوســمهال په کار داده، چې پوځ داســې جوړ شــي، چې بیا ځل د فوځ په نیمګړتیاوو سره د نظام زوال رامنځته نشي.

الله تعالی وایي: ژباړه: ژر ده چې الله تعالی به ستاســو دښــمن هــلاک کړي، بیا به وګوري چې تاسو (مؤمنان) څه کوئ؟

اوس الله تعالی دښــمن هلاک کړ، مګر زموږ اعمال د الله تعالی تر څارنې لاندې دي، چې څه کوو، اطاعت که معصیت؟

د هر مســلمان اصلاح مهمه ده، خو د پوځ اصلاح ته اړتیا ځکه شــته؛ چې پــوځ په ټولنه کې د مالکې حیثیت لري، د نورو شــیانو فساد په مالګه اصلاح کیږي، خو که مالګه فاسده شي؛ بیا یې اصلاح ناممکنه ده، د پوځ په بې لاریتوب ســره الله تعالی اسلامي نظام زائلوي او اسلامي نظام د هر مســلمان اړتیا، په ځمکه کې ستر نعمت او د انساني خلقت د هدف ضامنه ده.

اسلامي پوځ باید د تقوا او نیکو اعمالو نمونې وي، الهي شریعت لومړی په ځان بیا په نورو عملي کړي، د داســې پوځ ښــه مثال د صلاح الدین ایوبي پوځ و چې پوځیانو به یې د شپې لخوا تهجد او د ورځې جهاد کاو او یوازې دوه پوځیان یې له صف څخه ځکه ویســتل شــوي، چې د شــپې تهجــد یې نه کول، په دې خاطر چې ممکن د دوی له وجې الله تعالی په موږ رحمت بند کړي.

پــه نورو نړیوالو نظامونو کې اســلامي قانون دخل نلري نو ځکه د نظــام خلک د مخفي کیمرو، پولیســو او نور څارګرو په واســطه کنټرولوي، که مجرم تعقیب نشي مجرم نه دی، خو زموږ نظام الحمدلله اسلامي نظام دی هر پوځي باید په خپل جرم اعتراف وکړي؛ ځکه د اسلام په رأس کې ددې ډیر مثالونه شــته، رســول الله(ص) ته به اصحاب راغلل په جرم به یې اعترف وکړ او په ځان باندې د حد قائمولو به یې غوښــتنه به یې وکړه چې دا کار موږ ته راپاته سالمه او مؤثره ده.

سیاســت او حکومت مقصود بالــذات نه دي او د حکومت لپاره به د شــریعت احکام نه قرباني کیږي.

الله تعالی فرمایي: ژباړه: هغه کســان چــې موږ په ځمکه کې دوی تــه حکومت او واک ورکړ، نــو دوی لمونځونه کوي، زکات اداء کوي، په نیکۍ امر کــوي او له بدو څخه منع کوي او د ټولو کارونو انجام له الله تعالی سره ده.

له دې آیت څخه دا واضحه شــوه، چې لــه حکومت څخه اصلي موخــه دیانت او عبادت دی؛ سیاست او حکومتولي د دین دبرپاکولو لپاره یوه وسیله ده.

خلاصه دا چې نه د ســیکولریزم نظریه صحیح ده چې په سیاست او حکومت کې دین هیڅ ځای نــه لري او نه دا فکر صحیح دی چې د دین اصلي موخه سیاســت او حکومت دی؛ بلکې د دین اصلــي موخه له الله تعالی ســره د بنده تعلق(عبادات او طاعات)دي؛ نور سیاســت او حکومت د عباداتو د قائمولو یوه وســیله ده نو ځکه په اســلام کې هغه سیاست مطلوب دی چې د عباداتو ارتقا او قیام په راځي او که له سیاســت څخه دا شی مقصد نه و؛ هغه غیر اسلامي سیاست دی.

د ایمان قوت هم په اعداد کې داخل دی:

په تېرو قرونو کې مســلمانان د تجهیزاتو له کمي سره په دښمنانو غالبه وو؛ ځکه هغوی په روحاني قوت مجهز وو. لکه څنګه چې د دښــمن په وړاندې د پوځي قوت او تیاري ضرورت شته؛ دا شان په دښــمنانو د برلاســي لپاره د ایمان قوت او روحاني خوځښت ته هم اړتیا شته او د ایمان قوت د شریعت په پوره پابندۍ کې نغښتی دی.

کفارو هم دا حقیقت درک کړی دی، چې په مســلمانانو د برلاســي غوره لاره له مسلمانانو څخه د روحاني قوت ســلبول دي؛ ځکه تر څو چې دوی په روحاني قــوت مجهز وي او له الله تعالی ســره یې رابطه ټینګــه وي؛ بیا مسلمانان ددې جوګه دي چې د اســبابو له کمي سره په اسماني مدد مبارزه وکړي.

بلعم بن باعورا د موســی علیه الســلام مخالفینو ته وویل: که غواړئ چې په مسلمانانو مو سلطه راشــي؛ نو د جګړې په صف کې دننه ښایســته نجونې ځای کړئ، تر څو یې په لیدو مسلمانان د نفسي خواهش تابع او له الهي رحمته بې برخې شي، چې بیا دا پلان عملي او منتج شو. صلیبیانو هم څو ځله له مســلمانانو څخه د روحاني قوت د ســلبولو لپاره په اســلامي لښکرو کې دننه په مختلفو بهانو ښایســته نجونې داخلي کړي دي او په دې پلانونو ســره یې د پیړیو پیړیو مستحکم نظامونه راپرځولي دي. لکه دعثماني خلافت ســقوط یې ښه بیلګه ده. نن هم زموږ دښمن په کرار نه دی ناســت بلکې غواړي چې دنظام خلک په ګناه او فحاشــي کې ښکېل کړي او معنوي قوت یې له منځه یوړل شي.

اســلامي پوځ دې دا فکر نه کوي، چې نړیوال کفري پوځونه او نظامونه له ډېره وخته په پښــو ولاړ او د لا پرمختګ په لور هم روان دي نو مســلمانان به ولې د عادي ګناه له امله له اقتدار څخه بې برخې کیږي؟! ځکه کافر د څپلۍ په شان دی او مسلمان د خولۍ په شان دی، که په څپلۍ باندې هر څومره نجاســت نښــتی وي، هیڅ څوک یې باک نه لري، خو که په خولۍ لږ نجاســت نښتی وي، څوک یې تاب نه لري، همداســې کفري پوځونه خو د الله تعالــی باغیان دي په دنیا کې که یې کم راحت په برخه ده، مګر د آخرت له ابدي راحت څخه بې برخې دي ځکه نو له کفر ســره بیا هم الله تعالی په ځمکه کې څه مهلت او اقتدار ورکوي او مســلمان ته په لږ ګناه ســره هم الله تعالــی دنیوي عذاب ورکوي؛ ځکه په برخه یې بیا ابدي راحت ده؛ نو مســلمان پوځ د الله تعالی په نافرمانۍ ســره په دنیا کې معذب ګرځي او د عذاب یوه بیلګه بیرته د نظام او حکومت له لاسه وتل دي. په مکه مکرمه کې په مؤمنانو جهاد نه شــو فرض او په مدینه منوره کې پرې فرض شــو؛ علماء یې دا وجه ښــیي: په مکه مکرمه کې مســلمانان د کفارو تر سختو اذیتونو لاندې وو؛ نو که جهاد فرض شــوی وای بیا به جهاد او مبارزې د شــخصي تضاد او غچ اخیستنې اړخ نیولی و؛ نو بیابه مســلمانان د الهي نصرت مســتحقین نه وو خو په مدینه منوره کې د مسلمانانو ایمان زیات قوي شــو، هر قول او فعل یې د الله تعالی لپاره و، په یوه پیښه کې حضرت علي کرم الله وجهه یو کافر ځمکې ته کړ او په ســینه یې ورکېناست، کافر د حضرت علي رض په مخ لاړې ور تو کړې، علي رض فوراً ترې ولاړ شو.

کافر وویل: ولې دې پرېښودم؟

ده وویل: مخکې مې دښــمنې درســره د الله تعالی لپاره وه، خو اوس چــې مې فکر وکړ، ماویل داســې نه چې دا دښمني شــخصي او غچ اخیســتنه وګرځي. نو په مدینه منوره کې مسلمانان ښه ددې جوګه شول، چې اوس نو الهي نصرت نازل شي او په خلکو حکومت وکړي، هغه و، چې په غزاوو کې به ملائیکو هم برخه اخیسته.

په دې اساس دولتي منســوبینو ته په کار ده چې پوځ د ظاهري اعداد ترڅنګ په باطني اعداد هم وروزي، نیتونه یې جوړ کړي، اعمالو ته یې متوجه شــي، اصلاحــي پروګرامونه ورته جوړ کړي، دديني کتابونو دلوســت او مطالعې زمینه ورته برابره کــړي، دصفونو تصفیه وکړي او دنظام وګړي خپلو ایماني او ملي دندو ته متوجه کړي.

# د برېښـنا د سرچینو سـم مدیریت؛ د خلکو د اړتیاوو له پوره کولـو څخه تر اقتصادي ودې پورې

**لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز (CSRS)**

سریزه

افغانستان چې د انرژۍ د تولید پراخې سرچینې لري، لا هم پر وارداتي برېښنا تکیه کوي. ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان او ایران هغه څلور هېوادونه دي چې د افغانستان شاوخوا ۸۰ سلنه برېښنا اړتیاوې پوره کوي. په افغانستان کې حکومتونه د انرژۍ له پراخو سرچینو سره سره نه دي توانېدلي چې خپلو اتباعو ته دوامداره برېښنا برابره کړي. د داسې ستونزې په شتون کې؛ له یوې خوا د هېواد اقتصادي دوره وروشوې او وخت په وخت په بشپړه توګه ودرېږي. او له بلې خوا د پلازمېنې ډېرې ښاریان په ځانګړې توګه هغه کسان چې د بې وزلۍ او بېکارۍ له ستونزې سره مخ دي، له نورو سرچینو څخه د برېښنا د نه ترلاسه کولو له امله خپل وخت په تیاره کې تېروي. که څه هم په افغانستان کې د برېښنا د نشتوالي ستونزه کومه نوې ننګونه نه ده او له کلونو راهیسې د بې غورۍ او ناسم مدیریت له امله له یوه حکومت څخه بل حکومت ته لېږدول کېږي، خو هیله وه چې د اشغال په پای ته رسېدو او په افغانستان کې د اسلامي امارت په جوړېدو سره به دا ستونزه حل شي. لیکن له څه باندې یو نیم کال له تېرېدو وروسته دا ستونزه په ډېرو مواردو کې لا زیاته شوه.

څرنګه چې دوه اونۍ وړاندې رسنیو راپور ورکړ، چې په ټول هېواد کې د برېښنا د پرچاوۍ له امله د ۱۲۰۰ صنعتي شرکتونو فعالیت ځنډول شوی دی. په داسې حال کې چې موږ ټول پوهېږو چې لویې او وړې صنعتي فابریکې او تولیدي شرکتونه ټول د برېښنا پر بنسټ ولاړ دي او څرخي.

په دې لیکنه کې په افغانستان کې د برېښنا د تولید سرچینې، د هېواد د اقتصاد په وده کې د برېښنا ارزښت او په هېواد کې له برېښنا د نشتوالي بحران د پای ته رسولو څرنګوالی هغه موضوعات دي چې تر بحث لاندې نیول کېږي.

په افغانستان کې د برېښنا د تولید سرچینې

افغانستان د هغه بډایه هیوادونو له ډلې دی چې د انرژۍ د لویو سرچینو لرونکي له دي. ځکه دغه هېواد چې له یوې خوا د اوبو د زیاتو زېرمو په درلودلو سره د اوبو د بندونو د جوړولو ستر ظرفیت لري او له بلې خوا د هېواد د غرونو په زړه کې پټې زېرمې د انرژۍ د تولید یوه بډایه سرچینه ګڼل کېږي. افغانستان په سیمه کې د اوبو له اړخه یو بډایه هیواد دی. خو د شمېرو پر بنسټ، هر کال د دغه هېواد شاوخوا ۷۵ سلنه بهېدونکې اوبه نورو ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي. د اقلیم پوهانو لخوا د ترسره شویو څېړنو له نظره، په نړۍ کې د تازه اوبو د نړیوال نرخ له مخې د دغو اوبو ارزښت ۵۰ ملیارد امریکایي ډالر اټکل شوی. که څه هم افغانستان تر اوسه د اوبو حق نه دی ترلاسه کړی. خو که دا اوبه په سمه او عادلانه توګه مدیریت شي، د اوبو له دغو حقونو د ملي حاکمیت د اصولو او قانوني اړتیا په پام کې نیولو سره، د انرژۍ د تولید بندونه جوړ شي، دا کولی شي په هېواد کې د برېښنا اړتیاوې پوره کړي.

همدارنګه په نړۍ کې د برېښنا د تولید لپاره د ډبرو سکرو، یورانیمو، تیلو او ګازو کارول یوه عامه خبره ده. خو په افغانستان کې د دغو منابعو یوه لویه برخه بې ګټې پاتې ده او بله برخه یې اکثراً په غیر مسلکي ډول استخراج او تور بازار ته وړاندې کېږي او یا هم ګاونډیو هېوادونو ته په ټیټه بیه صادرېږي.

د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت له خوا د خپاره شوي راپور له مخې، د دغه هېواد د انرژۍ د تولید احتمالي ظرفیت ۲۴ زره میګاواټه دی؛ له دې جملې څخه ۲۳ زره یې د اوبو له سرچینو، شاوخوا (۵۱۴-۵۲۴) میګاواټه د سکرو څخه، شاوخوا (۳۵۰-۵۰۰) میګاواټه له طبیعي ګازو او په دې وروستیو کې شاوخوا (۱۲۵-۳۰۰) میګاواټه له خامو تیلو څخه دي. همدارنګه د نوي کیدونکي انرژۍ د نړیوال مرکز د شمېرو له مخې افغانستان په کال کې شاوخوا ۳۰۰ لمریزې ورځې لري، چې په هر لس متر مربع کې یو کیلو واټ لمریزه انرژي تولید کړی. دغه راز د دغه هېواد په بېلابېلو برخو کې مونسوني او موسمي بادونه د بادي برېښنا د تولید په برخه کې فرصت برابروي. خو داسې نور راپورونه هم شته چې افغانستان د لمریزې برېښنا له سرچینو څخه د ۲۰۰ زره میګاواټه او د باد له سرچینو څخه د ۶۸ زره مېګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري.

له بده مرغه افغانستان په سیمه کې د برښنا له ټولو سترو او پراخو سرچینو سره سره، له ډېرې مودې راهیسې په وارداتي برېښنا تکیه کوي او شاوخوا شل سلنه برېښنا له کورنیو سرچینو تولیدوي. او پاتې (۸۰٪) یې له ګاونډیو هېوادونو لکه تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران څخه واردېږي.

د هیواد د اقتصاد په وده کې د برېښنایي انرژۍ اهمیت

برېښنا په معاصره نړۍ کې د بل هر مصرفي توکي په پرتله خورا مهم عنصر دی، ځکه چې د صنعتي فابریکو له تولید څخه نیولې تر اطلاعاتو، سوداګریزو فعالیتونو، امنیتي دندو او نورو اقتصادي او اداري فعالیتونو د هر څه بنسټ په برېښنایي انرژي ولاړ دی. نو د هر هیواد د اقتصادي دورې جوړښت د هغه هیواد د برېښنا په تولید پورې اړه لري. کله چې برېښنا ډېره او ارزانه وي، د فابریکو په جوړولو کې پانګونه به وده ومومي. همدارنګه زیاتې فابریکې به فعالیت کوي او دې سره به تولید زیاتېږي. که له یوې خوا د زیاتو تولیدي فابریکو شتون د کورنیو تولیداتو ظرفیت لوړوي او د هېواد اقتصادي وده هڅوي، له خوا د بشري منابعو زیاته ګټه اخلي او دغه فابریکې کاري فرصتونه رامنځته کوي. له دې کار سره په هېواد کې د بېکارۍ ګراف را ټیټېږي او د خلکو ترمنځ د پراخې بې وزلۍ ستونزه کمېږي. نو لکه څنګه چې د برېښنا د نشتوالي ستونزه د فابریکو او سوداګریزو فعالیتونو د بندیدو لامل کېږي، ورته لاسرسی هم د هیواد د اقتصاد په وده او پرمختګ کې مهم رول لوبوي.

خو سره له دې چې افغانستان د برېښنا انرژۍ ډېرې سرچینې لري، نه یوازې دا چې له دغو سرچینو کار نه اخلي؛ لا هر کال سلګونه زره متر مکعب اوبه چې د ملیونونو ډالرو معادل دي ګاونډیو هېوادونو ته په وړیا ډول بهېږي. په داسې حال کې چې له دغو هېوادونو څخه د وارداتي برېښنایي انرژۍ په پېرلو باندې شاوخوا ۳۰۰ میلیونه ډالره لګوي. که دا پیسې چې هر کال هېواد ته د برېښنا د پېرودلو لپاره مصرفېږي په بل سکتور کې ولګول شي، دا به د دولت لپاره د عاید لویه سرچینه وی. همدارنګه که په افغانستان کې د برښنا انرژۍ سرچینې په سمه توګه مدیریت شي، نه یوازې دا چې له ګاونډیانو څخه د برېښنا د پېرلو لپاره به هر کال د میلیونونو ډالرو له لګولو مخنیوی وشي، بلکې د برېښنا د تولید له توربینونو څخه ترلاسه شوې پیسو څخه به د هېوادوالو د لګښتونو او په ځانګړې توګه کورنیو پانګونو کې ګټه واخستل شي او ګاونډیو هیوادونو ته به په مناسبه بیه اضافي برېښنا صادروي.

په هر صورت د برېښنا نشتوالی نه یوازې دا چې د صنعتکارانو او سوداګرو کارونه سستوي، بلکې فقر او بېکاري هم ورسره زیاتېږي او لکه څنګه چې په نننۍ دنیا کې د برېښنایي انرژۍ په برخه کې په ځان بسانه د حکومتدارۍ یو مهم اصل ګڼل کېږي، نو ځکه برېښنایي انرژي د خپل ځانګړې ارزښت له نظره په هېواد کې د اقتصادي ودې، پرمختګ او په پایله کې د اقتصادي ځان بساینې او هم په هېواد کې د سیاسي ثبات مهم لامل ګڼل کېږي.

په هېواد کې د برېښنا د نشتوالي بحران به څنګه پای ومومي؟

که څه هم د افغانستان په ځینو اوبو حوزو کې، په تېره بیا له ځینو ګاونډیو هېوادونو سره د سرحدي اوبو په اړه، لا هم ځینې ستونزې ناحل شوې پرتې دي. او د دغه هیواد په سیاسي او امنیتي بې ثباتۍ کې د ځینو دغو هیوادونو د لاس وهنې په اړه هم څه کتنې موجودې دي. د اوبو د بحران مسئله په ټولو حکومتونو او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د جمهوري ریاست د شل کلنې واکمنۍ پر مهال یوه نه حل کېدونکې مسله وه، ځکه یو شمېر شنونکي د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ سیاسي ستونزې د اوبو پر سرچینو پورې تړلې ګڼي. د افغانستان حکومت ته پکار ده چې له ګاونډیو هېوادونو سره د یوې سمې پالیسي له لارې خبرې اترې وکړي، څو له دغو هېوادونو سره د افغانستان د اوبو د حقونو ستونزه حل شي او حکومت پرېنږدي چې افغان ولس له دې زیات له بې برقۍ څخه زیانمن شي.

په بل ګام کې د افغانستان د داخلي پرمختګ او ودې لپاره له سترو طبیعي زیرمو څخه استفاده اړینه ده او ددې استفادې لپاره د ټولنې د مختلفو طبقو ترمنځ د ملي روحیې رامنځته کول اړین دي. بې له شکه د برښنا په برخه کې د ځان بساینې لپاره د خلکو ترمنځ د ملي روحیې رامنځ ته کول شاید په لومړي سر کې ننګونې ولري، خو په نړدې راتلونکي کې به په ټولنه کې مثبت او بنسټیز بدلون راولي او په دې سره به دا روحیه نوره هم پیاوړې شي. په دې برخه کې یو له مهمو ګامونو څخه شاید د هیواد په سیندونو کې د اوبو د لویو بندونو لکه د نغلو بند، کجکي سلما او داسې نورو په جوړولو کې د دولت پانګونه وي. ځکه د هېواد په بېلابېلو زونونو کې د لویو بندونو په جوړېدو سره به ښایي په افغانستان کې د برېښنا د نشتوالي ډېرې ستونزې هوارې شي.

همدارنګه د خصوصي سکتور له خوا په داوطلبانه توګه د انرژۍ د تولید لپاره د چارو اسانتیا شاید یو له نورو فرصتونو څخه وي چې په هیواد کې د بیلابیلو سرچینو څخه د تولید، کیفیت او کچې لوړولو لپاره هڅې اسانه کړي. له یوې خوا به د یوه مشخص شرکت (د افغانستان د برېښنا شرکت) له انحصار څخه د خدمتونو وړاندې کول له بلې خوا د برېښنا د تولید په برخه کې د همکارۍ او همغږۍ فرصتونه برابروي. له بلې خوا تمه ده چې د انرژۍ د سکتور، پالیسۍ او ستراتیژۍ به بډایه شي. په همدې توګه د حکومت له خوا د بهرنیو پانګوالو جلب او جذب یو بل زرین فرصت دی چې کولی شي هېواد د برېښنا په برخه کې پر ځان بسیا کړي. په دې وروستیو کې رسنیو، په افغانستان کې پانګونې ته د چینایي پانګوالو د لېوالتیا خبر ورکړل دی، خو په پلازمینه کې پر دیپلوماتیکو ځایونو وروستي بریدونه په ځانګړې توګه د کابل نوي ښار په (لوګن) هوټل کې د چینایانو پر استوګنځي برید چې شاوخوا ۳۵ چینایي پانګوال په دغه هوټل کې موجود وو، د دې لامل شول چې بهرني اتباع د امنیت له پلوه له ګواښ سره مخ شي. په همدې حال کې چین له افغانستانه خپل اتباع ایستلي او اوس د پانګونې تړونونه پر ژبه او یا هم دکاغذ پر مخ پاتې دي.

پایله

له پورته مطالبو څخه دا جوته شوه چې افغانستان د انرژۍ د تولید په برخه کې پراخې طبیعي سرچینې او ځانګړې فرصتونه لري. خو د برېښنا د تولید په برخه کې د خدمتونو په وړاندې کولو کې پاتې راغلی او د ګڼو لاملونو لکه ناسم مدیریت، ناامنۍ، سرحدي ستونزو او داسې نورو له امله نه دی توانېدلی چې له کورنیو سرچینو څخه د اړتیا وړ برېښنا برابره کړي. له همدې امله افغانستان د برښنا په برخه کې په بهرنیو سرچینو تکیه کوي او تل په تیارو کې وی. نو د ددې په اساس موږ د برېښنا نشتوالي د ستونزې د حل لپاره، لاندې وړاندیزونه کوو:

- د هېواد د اوبو له سرچینو څخه د استفادې په موخه افغان حکومت باید د نړیوالو حقوقي تړونونو په رڼا کې له ګاونډیانو سره د اوبو د حقونو په اړه خبرې اترې وکړي، څو د اوبو د ذخیروي بندونو د پانګونې په برخه کې اغېزمن ګامونه پورته شي.
- په دې برخه کې یو له مهمو کړنو څخه په هیواد کې د اوبو د مدیریت په اړه د قوانینو او پالیسیو چمتو کول او ترتیبول دي، چې باید د حکومت د کار په سر کې وي.
- زموږ هېواد د ډبرو سکرو له سترو کانونو څخه برخمن دی، خو له بده مرغه چې په غیر مسلکي ډول استخراجېږي او تور بازار ته عرضه کېږي او یا هم په کمه بیه ګاونډیو هېوادونو ته صادرېږي. دا به ښه وي چې له دې ډبرو سکرو څخه په ښه توګه، هېواد کې د برېښنا د تولید لپاره کار واخیستل شي.
- افغانستان د لمر او باد د منابعو له پلوه هم ښه فرصتونه لري. په دغو مواردو کې پانګونې ته پاملرنه هم په ټول هېواد کې د برېښنا پر تولید او ویش مثبت او د پام وړ اغېز لرلی شي. ځکه د دغو دوو طبیعي سرچینو ظرفیت شاوخوا ۲۶۸ زره میګاواټه برېښنا اټکل شوی دی.
- د برښنا په تولید کې د ځان بساینې نشتوالی زموږ په هیواد کې د حکومتونو او خلکو لپاره دوامداره ننګونه ده. له همدې امله حکومت ته پکار ده چې په دې برخه کې د بهرنیو پانګوالو د جلب او جذب او یا هم د کورنیو پانګوالو د پانګونې د اسانتیاوو په برابرولو سره لا ډېر جدي اقدامات وکړي. ځکه چې له یوې خوا له کورنیو سرچینو څخه د برښنا انرژۍ تولید، په هېواد کې دننه د لازیاتې پانګونې اسانتیاوې برابروي او له بلې خوا د کورنیو تولیداتو کچه هم لوړوي. له بلې خوا دا د اقتصادي ودې بنسټ ګرځېدلی شي، د بې وزلۍ او بېکارۍ ستونزه ختموي او هم زموږ خلک د ګاونډیو هېوادونو له انحصاره خلاصوي.

**پای**

# هغو کسانو ته چې په دین کې ډلې ټپلې جوړوي

**مولوي نورالحق مظهري**

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لِعَائِشَةَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ الَّذِينَ فَارَقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا إِنَّهُمْ أَصْحَابُ الْبِدْعَةِ وَالأَهْوَاءِ وَأَصْحَابُ الضَّلالَةِ مِنْ هَذِهِ الأُمَّةِ يَا عَائِشَةُ إِنَّ لِكُلِّ صَاحِبِ ذَنْبٍ تَوْبَةً غَيْرَ أَصْحَابِ الأَهْوَاءِ وَالْبِدَعِ لَيْسَ لَهُمْ تَوْبَةٌ أَنَا مِنْهُمْ بَرِيءٌ وَهُمْ مِنِّي بُرَآءُ. [السنة لإبن أبي عاصم ٤] ژباړه: د عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عائشې رضي الله عنها ته وویل: ای عائشې! کومو کسانو چې خپل دین پرېښود او ډلې ډلې سول هغوی د بدعت، نفسي غوښتنو او د دې ملت د ګمراهۍ خاوندان دي؛ اې عائشې د هر ګناهکار لپاره توبه سته بې له نفسي غوښتونکو او بدعتیانو څخه د دوی لپاره توبه نسته، زه د دوی څخه بېزاره یم او دوی زما څخه بېزاره دي.

په دې خاطر چې اسلام ټوله یو دین او یو کور دی او مسلمانان باید همیشه ټول سره په اتفاق او اتحاد وي رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کسان چې د نفسي غوښتنو او بدعتونو پر اساس په دین کې ډلې او فرقې جوړوي د دین پرېښودونکي بللي، هغوی یې د نفسي غوښتنو تابع، بدعتیان او ګمراهان بللي او د دوی څخه یې د ځان د بېزارۍ تر څنګ د دوی لپاره سخت عذاب هم بیان کړی دی چې د دوی توبه نه قبلېږي. الحمدلله چې اوس زموږ ملت د یوه دین او یوه مذهب په چوکاټ کې پر یوه امیر باندې سره راټول دی کوم کسان چې د دې ملت څخه ځان جلا کوي او د نفسي غوښتنو او سیاسي انحراف پر اساس ډلې ټپلې جوړوي هغوی د دې حدیث مصداق دي او الله تعالی به ډېر سخت عذاب ورکوي.

## غزل

**فضل ولي ناګار**

ستا د رحمت دریاب به کله په څپو راځي
نوره مې ساه له تلوسو نه په وتو راځي
دا خپل ملنګ ربه! په نورو کوڅو مه ګرځوه
غریب سړی یم کبر نه کوم٬ پښتو راځي
دَعا که څو ده عبادت د کبریا په حضور
په تسلسل شرم٬ غیرت له پرښتو راځي
ما هم ځواني کړه نذرانه د کوم ارمان په هیله
وایي د رب حیا له دې سپینو ویښتو راځي
اوس زلیخا غوندې دیره یمه د لارې په سر
چې د یوسف کاروان د مصر له کوڅو راځي
د زړه واړه کور کې د لویې مینې شور وګوره
د ناګار خولې ته اناالحق په زمزمو راځي

## غزل

**عاکف**

شپې رڼوه آن تر سهاره ته همداسې ښه یې
د زړګي درده نا قراره ته همداسې ښه یې
کـه چېرته ته نـه یې کېدایشي جانانه هم هېر کړمه
زما په زړه د غم امباره ته همداسې ښه یې
لکه شبنم د ګل د شونډو په سرونو باندې
د یار په سترګو کې خماره ته همداسې ښه یې
په رقیبانو باندې سمه دنیاګۍ ورانوي
د جانان رنګ و بنګ دستاره ته همداسې ښه یې
ما هم د ستا ناز او نخرو ته غاړه کښېښښوده
د ژوندانه بدرنګه ښاره ته همداسې ښه یې
مغروره سر دې د هېچا پښو ته را ښکته مه شه
لا سر بلند اوسې چناره ته همداسې ښه یې
په مینتوب کې دې نیمی خوشحالي بایلودله
زما ( ملا عاکفه ) یاره ته همداسې ښه یې

## دا قضیه به شرطیه منفصله شي

**محمدصادق طارق**

ستا د مخ صغری به څنګه نتیجه شي؟
چې کبری یې د بلاوو پیلامه شي
د ښائست ثبوت وه تا ته مسلّم دی
د موضوع ثبوت محمول ته حملیه شي
دا چې ستا پر مخ دې هیڅ څوک مین نه وي
تناقض دی، خامخا به کاذبه شي
ستا جمال به یې موضوع سپوږمۍ محمول شي
عکس وکړه چې جمال دې پرې میلمه شي
تورې سترګې سپین باړخو چې سره یو شي
د شارح قول ترې جوړ شي ستا کیسه شي
چې مین وي او طارق غوندې قرار وي
دا قضیه به شرطیه منفصله شي

# افغان اعلانات

اعلان دعوت به داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی تهیه و تدارک ٦ قلم آیل باب و مایعات مخصوص ضرورت قول اردو ۲۰۵ البدر از بابت شش ماه اول سال مالی ۱٤۰۲.

نوع قرارداد:باالمقطع روش(داوطلبی باز داخلی). شماره داوطلبی: MOD-1402-G-Q0014 -22603 اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.

آدرس ومدت اخذ شرطنامه:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه از تاریخ نشر اعلان الی بیست ویک یوم تقویمی به روز های رسمی از شروع رسمیات الی ختم رسمیات بشکل کاپی/سافت (CD)اخذ و همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را از ویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلود نمایند .شماره تماس(۰۲۰۲٦۱۲۰۷۹).

تضمین آفر: مبلغ تضمین آفر (۱,۱۰۰,۰۰۰) افغانی بشکل گرانتی بانک اخذ میگردد.

نوت : تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست. صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد.

ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد, یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.

ضرب العجل تسلیمی آفرها و آفرگشائی:از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم بعد، قبل از ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر آفر های دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

محل آفرگشائی:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه بلاک آفرگشائی.

نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً مواادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفر اسناد سوابق کاری،پروژه های مشابه، توانمندی مالی وسایر اسناد تقاضا شده مندرج شرطنامه راتسلیم نمایند.

***

اعلان دعوت به داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه وتدارک (شش قلم آئیل باب) مورد ضرورت قول اردوی ۲۰۱خالدبن ولید از بابت سال مالی۱٤۰۲از روش داوطلبی باز نوع قرارداد باالمقطع دارایی نمبرتشخیصیه MOD-۱٤۰۲-۲۲٦۰۳-G-Q۰۰۱۲ اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند. ازتاریخ نشراعلان به روز(۲۲)تقویمی ساعت(۱۰)قبل ازظهر آفرها اخذ میگردد و آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

آدرس ومدت اخذشرطنامه: داوطلبان میتوانند شرطنامه را بشکل کاپی/سافت (CDویا فلش) ازتاریخ نشراعلان الی بیست ویک یوم تقویمی به روزهای رسمی ازشروع رسمیات الی ختم رسمیات از ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل دریافت نمایند همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را ازویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلونموده وحق دارند با اصل شرطنامه آنرا مقایسه نموده واطمینان خویش را حاصل نمایند.

تضمین آفر:بشکل گرانتی بانک مبلغ(۱,۰٤۹,۰۰۰) افغانی میباشد.

تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست ،صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد.ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد, یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.

محل آفرگشائی: تالار آفرگشائی ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل.

نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً مواادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفراسناد توانمندی مالی تضمین آفر کارمشابه وسایراسنادهای تقاضا شده مندرج شرطنامه راتسلیم نمایند.

***

اعلان دعوت به داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه وتدارک (شش قلم آئیل باب) مورد ضرورت قول اردوی ۲۰۳منصوری از بابت سال مالی۱٤۰۲از روش داوطلبی باز نوع قرارداد باالمقطع دارایی نمبرتشخیصیه MOD-1402-G-Q0012 22603- اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند. ازتاریخ نشراعلان به روز(۲۲)تقویمی ساعت(۱۰)قبل ازظهر آفرها اخذ میگردد و آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

آدرس ومدت اخذشرطنامه: داوطلبان میتوانند شرطنامه را بشکل کاپی/سافت (CDویا فلش) ازتاریخ نشراعلان الی بیست ویک یوم تقویمی به روزهای رسمی ازشروع رسمیات الی ختم رسمیات از ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل دریافت نمایند همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را ازویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلونموده وحق دارند با اصل شرطنامه آنرا مقایسه نموده واطمینان خویش را حاصل نمایند.

تضمین آفر:بشکل گرانتی بانک مبلغ(۱,۰٤۹,۰۰۰) افغانی میباشد.

تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست ،صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد.ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد, یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.

محل آفرگشائی: تالار آفرگشائی ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه ناحیه ۱۵ شهر کابل.

نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً مواادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفراسناد توانمندی مالی تضمین آفر کارمشابه وسایراسنادهای تقاضا شده مندرج شرطنامه راتسلیم نمایند.

***

اعلان داوطلبی

موضوع: شرطنامه مزایده داوطلبی (آفرهای سربسته) اجاره‌دهی موازی (۷۰۰) مترمربع زمین سفید واقع گولایی مهتاب قلعه از مربوطات ناحیه سیزدهم

شماره‌داوطلبی:KM/NCS/L-141/1401

شاروالی کابل از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می‌نماید، تا در پروسه داوطلبی اجاره‌دهی موازی (۷۰۰) مترمربع زمین سفید واقع گولایی مهتاب قلعه از مربوطات ناحیه سیزدهم شهرکابل اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوطه را دربدل (۱۰۰۰) یک هزار افغانی بدون بازگشت از آمریت تدارکات خدمات مشورتی و اجاره‌دهی ریاست تدارکات شاروالی کابل به‌دست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز تقویمی بعداً ارائه نماید. آفرهای ناوقت رسیده قابل پذیرش نمی‌باشد.

تضمین آفر مبلغ (٤۰،۰۰۰) چهل هزار افغانی نقدی و یا گرنتی بانک اخذ می‌گردد، جلسه آفرگشایی مطابق مندرج شرطنامه به وقت و زمان تعیین شده، در منزل اول صالون طعام خوری (کلوپ) شاروالی کابل واقع چهار راهی ملک اصغر - جوار پارک زرنگار، شهر کابل تدویر می‌گردد.

***

اعلان داوطلبی

موضوع: شرطنامه مزایده داوطلبی (آفرهای سربسته) اجاره‌دهی موازی (۱۹٦۱۸) مترمربع زمین سفید چهاردیواری واقع تنگی غارو پلچرخی از مربوطات ناحیه نزدهم

شماره‌داوطلبی:KM/NCS/L-111/1401

شاروالی کابل از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می‌نماید، تا در پروسه داوطلبی اجاره‌دهی موازی (۱۹٦۱۸) مترمربع زمین سفید چهاردیواری واقع تنگی غارو پلچرخی از مربوطات ناحیه نزدهم شهرکابل اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوطه را دربدل (۱۰۰۰) یک هزار افغانی بدون بازگشت از آمریت تدارکات خدمات مشورتی و اجاره‌دهی ریاست تدارکات شاروالی کابل به‌دست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز تقویمی بعداً ارائه نماید. آفرهای ناوقت رسیده قابل پذیرش نمی‌باشد.

تضمین آفر مبلغ (۱۰۰،۰۰۰) یکصد هزار افغانی نقدی و یا گرنتی بانک اخذ می‌گردد، جلسه آفرگشایی مطابق مندرج شرطنامه به وقت و زمان تعیین شده، در منزل اول صالون طعام خوری (کلوپ) شاروالی کابل واقع چهار راهی ملک اصغر - جوار پارک زرنگار، شهر کابل تدویر می‌گردد.

***

اعلان داوطلبی

موضوع: شرطنامه مزایده داوطلبی (آفرهای سربسته) اجاره‌دهی موازی (٦٦٦۷) مترمربع زمین و سه پارکینگ واقع باغ عمومی پغمان از مربوطات ناحیه چهاردهم

شماره‌داوطلبی:KM/NCS/L-۱٤۰۱/۰٤۵

